ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت
د عامه اطلاعاتو او نشراتو ریاست

# ترانسپورټ او هوايي چلند

مجله

علمي ‹ معلوماتي ‹ فرهنګي



- یو ښه موټرچلوونکی باید کومې خبرې په پام کې ونیسي؟
- د نړیوال هوايي ټرانسپورټ اتحادیې رول او اهمیت
- کومه لاره غوره کړو، لنډه که اوږده؟
- له منځنۍ اسیا سره د ټرانسپورټي او ټرانزیټي اړیکو پراختیا
- د ترکیې د ټرانسپورټ وزیر د زیات سرعت له امله جریمه شو

پرلپسې ۹ ګڼه
د ۱۴۰۴ کال دویمه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِينَ۔ وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ
عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِينَ۔ وَعَلٰى آلِهِ وَاَصْحَابِهِ اَجْمَعِينَ۔



## په هېواد کې د کوکنارو د کښت د ممنوعیت په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله فرمان

ګڼه: (۳۱)

نېټه: ۱۴۴۳/۹/۴هـ.ق

ټولو هېوادوالو ته خبر ورکول کېږي، چې د دغه فرمان د صدور له نېټې څخه وروسته په افغانستان کې د کوکنارو کښت په مطلق ډول ممنوع دی. له دې وروسته به هېڅوک پر خپلو ځمکو باندې کوکنار نه کري، که هر چا کوکنار وکرل نو کښت به یې له منځه وړل کېږي او په خپله به د شرعي چلند سره مخ کېږي.

همدارنګه په ټول هېواد کې د نشه‌يي توکو د ټولو ډولونو؛ لکه شراب، هیرویین، شیشه، ټابلیت‌کا، چرس او د نورو ټولو نشه‌کوونکو شیانو کارول، انتقال، خرڅلاو، تجارت، واردات او صادرات او د نشه‌يي توکو د تولید کارخانې ممنوع دي. که هر چا د دغه فرمان له حکمونو څخه سرغړونه وکړه، د اسلامي امارت عدلي او قضائي ارګانونو ته به معرفي کېږي او له سختو مجازاتو سره به مخ کېږي.

والسلام

امیر المؤمنین شیخ القرآن والحدیث مولوي

هبة الله اخندزاده صاحب حفظه الله تعالی

# ټرانسپورټ او هوايي چلند مجله

علمي ‹ معلوماتي ‹ فرهنګي

د ۱۴۰۴ ل کال دویمه، پرلپسې نهمه ګڼه


| | |
|---|---|
| امتیاز خاوند: | ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت |
| خپروونکی: | د عامه اطلاعاتو او نشراتو ریاست |
| مسئول مدیر: | نورالله غازي |
| کتنپلاوی: | مولوي محمد موسی غزنوي، مولوي راز محمد المظهري<br>احمد جاوید فیضي، سید جاوید محبوب,<br>احسان الله سعادت مدني، حکمت الله آصفي,عزیز الرحمن فراجغاني |
| خبریالان: | عبدالحلیم حلیمي او فرمان‌الله ارشاد |
| عکس اخیستونکي: | روح الله هنرجو، محمد ایمل سمون |
| ډیزاینر: | عبدالغني افغان |
| پته: | انصاري واټ، ملي راډیو ټلویزیون ته څېرمه ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت |
| اړیکي شمېره: | ۰۲۰۲۹۲۳۲۹۶ (۹۳)+ |
| ایکسپاڼه: | DChlnd@ |
| ویبپاڼه: | www.mota.gov.af |


‹ یادونه: له سرلیکنې پرته د نورو لیکنو لیکنو سپیناوی د لیکوالانو پر غاړه دی. د مجلې له مقالو ګټه اخیستنه د سرچینې په یادولو سره جواز لري. ټرانسپورټ او هوايي چلند مجله د ټرانسپورټ او هوايي چلند اړوند هغو مقالو او مطالبو ته په خپلو پاڼو کې ځای ورکوي، چې بل ځای نه وي خپرې شوې.

# په دې ګڼه کې:


| | |
|---|---|
| ۱ | سرلیکنه |
| ۲ | د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د قدرمن مقام لنډ پيغام! |
| ۳ | د افغانستان هوايي ډګرونه ( لړۍ ) |
| ۱۰ | یو ښه موټرچلوونکی باید کومې خبرې په پام کې ونیسي؟ |
| ۱۵ | د نړیوال هوايي ټرانسپورټ اتحادیې رول او اهمیت |
| ۱۷ | کومه لاره غوره کړو، لنډه که اوږده؟ |
| ۱۹ | کړنې او لاسته‌راوړنې |
| ۲۱ | له منځنۍ اسیا سره د ټرانسپورټي او ټرانزیټي اړیکو پراختیا |
| ۲۳ | د مولانا جلال‌الدین محمد بلخي نړیوال هوايي ډګر کې نوي پرمختګونه |
| ۲۵ | د هواپېژندنې عصري دستګاوو نصبول |
| ۳۱ | د کابل ښرخي پله کې د برېښنايي دروازې (ټول‌ګېټ) پروژه |
| ۳۲ | د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د یو کلنو لاسته راوړنو راپور |
| ۳۳ | انتقال زمین‌های امارتی؛ گامی بنیادین برای تحول در بخش ترانسپورت کشور |
| ۳٤ | د دریبو میاشتو په موده کې لنډ خبرونه |
| ۳۷ | د واټ ټرانسپورټ په برخه کې برېښنايي سیستم پیل او د فزیکي پیسو پای |
| ۳۸ | سازمان بین‌المللی هوانوردی ملکی ایکاو... |
| ٤۱ | د ترکیې د ټرانسپورټ وزیر د زیات سرعت له امله جریمه شو |



# سرلیکنه

ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د تېرو درېيو مياشتو په موده کې د پام وړ پرمختګونو او نوښتونو شاهد دی. د هېواد د ټرانسپورټي نظام د عصري کولو او معياري کولو په لور مهم ګامونه پورته شوي دي، چې د سوداګرۍ د پياوړتيا، اقتصادي ودې او د هېوادوالو د ژوند د اسانتياوو په برابرولو کې يې ځرګند رول لوبولی دی.

په دغه موده کې، د ځمکني او هوايي ټرانسپورټ په دواړو برخو کې د پام وړ اقدامات ترسره شوي دي. د موټرو د لوړ سرعت کنټرول او د GPS سيستم د نصب پروسه د پخوا په پرتله لا منظمه او پراخه شوې ده. تر اوسه زرګونو موټرو ته دا الې نصب شوې دي، چې دا د ټرافيکي نظم او د سړکونو د خونديتوب په برخه کې يو ستر پرمختګ ګڼل کېږي. دا هڅې نه يوازې د ټرافيکي پېښو د کمېدو لامل ګرځي، بلکې د ټرانسپورټي خدمتونو شفافيت او موثريت هم زياتوي. د هېواد په بېلابېلو سيمو کې د تيرپارکونو او برېښنايي دروازو جوړول د ټرانسپورټي زيربناوو د پراختيا په برخه کې ګټور ګام دی، چې د هېواد اقتصادي پرمختګ او د خلکو د ژوند کيفيت لوړول او هوساينه ورسره تړلې ده. په هوايي چلند برخه کې هم د پام وړ پرمختګونه شوي دي. د نړيوالو هوايي ډګرونو ترڅنګ، محلي هوايي ډګرونو ته ځانګړې پاملرنه شوې ده. د پکتيکا ولايت د ښرنې، فيض اباد، فراه، ارزګان، بست، باميان، غور او کندوز هوايي ډګرونو د فعال ساتلو لپاره مهمې چارې ترسره شوې دي او د نورو محلي هوايي ډګرونو د لا پراختيا پلانونه هم تر کار لاندې دي. دا نوښتونه دهوايي چلند نړيوالو معيارونو سره سم د هوايي ډګرونو د فعاليتونو د پراختيا او د مسافرو لپاره د غوره خدمتونو د وړاندې کولو لپاره بنسټيز ارزښت لري. د برېښنايي سيستمونو پراختيا هم د وزارت د شفافو او عصري خدماتو يوه بله بېلګه ده. د کابل په پلچرخي سيمه کې د ١٦٦ ميليونه افغانيو په ارزښت د ټولګټې پروژه پيل شوه او د فزيکي پيسو د مخنيوي په موخه د برېښنايي تادياتو سيستم فعال شو. دا پرمختګونه د موټرچلوونکو او کاروونکو لپاره اسانتياوې رامنځته کوي او د ښاري نظم په ښه‌والي کې مهم رول لري. له دې ټولو سره، د سيمه‌ييزو همکاريو د پراختيا په موخه د سيمې له هېوادونو د استازو سره ګټورې ليدنې ترسره شوې دي، چې دا د نړيوالو اړيکو د پياوړتيا او د ګډو اقتصادي موخو د تحقق لپاره د هڅو ځرګندونه کوي. په ټوله کې ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت دا کړنې د يوه منظم، شفاف او عصري ټرانسپورټي نظام د جوړولو لپاره د نه ستړې کېدونکو هڅو انځور وړاندې کوي. دا پرمختګونه نه يوازې د هېوادوالو لپاره د اسانتياوو لامل کېږي، بلکې د افغانستان د اقتصادي ودې او سيمه‌ييزې نښلونې لپاره هم يو پياوړی بنسټ برابروي.




# د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د قدرمن مقام لنډ پیغام!

ګرانو هېوادوالو!

په داسې حال کې چې زموږ هېواد د بيا رغونې، هوساینې او اقتصادي ودې پر لور روان دی، د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د هېواد د پرمختګ او د خلکو د اسانتيا لپاره خپلې هلې ځلې په پرله‌پسې توګه رواني ساتلې دي. خو د (۱۴۰۴ل د وږي مياشتې په نهمه) نېټه د کونړ زلزله هغه دردناکه پېښه وه چې زموږ د ډېرو هېوادوالو ژوند يې اغېزمن کړ، ګڼې کورنۍ يې د سخت غم او زيان سره مخ کړې. د الله تعالی (ﷻ) له دربار څخه ورته د صبر او ثواب دعا کوو. په همدې ستونزمنو شېبو کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت کارکوونکو، په ځانګړې ډول د ننګرهار هوايي ډګر مسؤلينو، په پوره ژمنتيا سره ۲۴ ساعته خدمات وړاندې کړل. د ټپيانو د عاجل لېږد، د مرستو د انتقال او د ژغورنې د عملياتو په برخه کې د هوايي چلند له لارې مؤثر رول ترسره شو او دا موږ خپل مسئوليت ګڼو چې د خپلو هېوادوالو خدمت او پر وخت رسيدنه وکړو. د افغانستان جغرافيه د سيمې د وصل او سوداګرۍ يوه مهمه لار ده. له همدې امله موږ د سيمې او نړيوالو همکاريو پراختيا ته ځانګړې پاملرنه کوو. په وروستيو مياشتو کې د قزاقستان، قرغيزستان او روسيې فدراسيون د تاتارستان جمهوريت او د سيمې نورو هېوادونو له لوړپوړو استازو سره مهمې ليدنې ترسره شوې، په دغو ليدنو کې د ټرانسپورټي او ټرانزيټي اړيکو د پياوړتيا، د مستقيمو الوتنو د پيل، د واټ ټرانسپورټ موافقتنامو او د لوژستيکي تاسيساتو د پراختيا په اړه بحثونه وشول. دا ليدنې د افغانستان لپاره د اقتصادي ودې او د سيمې له هېوادونو سره د لا نږدې همکاريو لپاره نوې لارې پرانيزي. د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د هوايي او ځمکني ټرانسپورټ په برخه کې خپلې هڅې جاري ساتي او د دې دواړو برخو د پياوړتيا لپاره ژمن دی، تر څو افغانستان د سيمې او نړيوالو ټرانزيټي لارو سره وصل او په ټوله نړۍ کې يو ځانګړی مقام خپل کړي. موږ ټولو هېوادوالو، ټرانسپورټي شرکتونو او موټر چلوونکو ته توصيه کوو، چې د خونديتوب او ټرانسپورټي نظم اصولو ته جدي پاملرنه وکړي. منظم او خوندي ټرانسپورټي نظام يوازې د امارت له هڅو نه، بلکې د ولس له همکارۍ سره پياوړی کېږي. موږ ژمن يو چې د خلکو د هوساينې، د ملي اقتصاد د پياوړتيا او د معياري ټرانسپورټي خدمتونو د رامنځته کولو لپاره خپلې هڅې لا پسې چټکې او په ټولو معيارونو برابرې کړو.

**الحاج ملا حميدالله اخندزاده**

**د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزير**

# د افغانستان
## هوايي ډګرونه

(لړۍ)



پرلپسې شپږمه برخه

**د ټرانسپورټ او هوايي چلند مجلې په تېرو ګڼو کې د افغانستان نړیوال هوايي ډګرونه دروپېژندل شول.**
**په دې ګڼه کې د هېواد محلي هوايي ډګرونه درپېژندل کېږي، چې پیل یې د ننګرهار، باميان، فراه او کندوز هوايي ډګرونو څخه کېږي او په ترتيب سره به ټول محلي هوايي ډګرونه دروپېژندل شي.**



افغانستان چې د غرونو او درو هېواد بلل کېږي، د ټرانسپورټ د پیاوړي سیستم لپاره د هوايي ډګرونو پراخې شبکې ته اړتیا لري. دا بنسټونه افغانستان له نړۍ سره د نښلولو، سوداګرۍ، بشري مرستو، بیړنیو خدمتونو او سیمه‌ییزې پراختیا لپاره حیاتي رول لري. د محلي هوايي ډګرونو پراختیا د ظاهرشاه په واکمنۍ کې، چې د هوايي چلند رئیس شاه محمد غازي و، پراختیا ومونده. د هغه وخت حکومت غوښتل چې د افغانستان ټولو ولایتونو ته، چې په لنډ وخت کې ورته ځمکنیو لارو تېرول مشکل وو، د هوايي ډګرونو پراختیا چارې ګړندۍ کړي او د هېواد په ډېریو برخو کې یې کوچني هوايي ډګرونه جوړ کړل، چې د باختر هوايي شرکت کوچنیو الوتکو پکې ناسته او الوتنه کولی شوه، د هېوادوالو تر څنګ د ټولې نړۍ ګرځندویانو ته د هېواد هرې سیمې ته د تګ زمینه برابره شوې وه. په دې مقاله کې به د افغانستان څلور مهم محلي هوايي ډګرونه: د ننګرهار (جلال‌اباد)، بامیان، فراه او کندوز هوايي ډګرونه دروپېژندل شي. دغه څلور هوايي ډګرونه، سره له دې چې جلا جلا تاریخي شالید، جغرافیوي موقعیت او تخنیکي جوړښت لري، خو د ټولو موخه د هېواد د خلکو لپاره د هوايي ټرانسپورټ اسانتیا برابرول، اقتصادي هوساینه او د سیمو ترمنځ اړیکو ته پراختیا ورکول دي.

# ننګرهار هوايي ډګر



د ننګرهار هوايي ډګر، چې د جلال‌اباد هوايي ډګر په نوم هم يادېږي، د ننګرهار ولايت په مرکز جلال‌اباد کې د کابل – جلال‌اباد سړک څخه څو کيلو متره لرې پروت دی. دا هوايي ډګر د ځغاستليکې او نورو تاسيساتو او اسانتياوو د جوړېدو چارې د مورسن کمپنۍ سره په ۱۳۴۰ل د مرغومې/جدي په مياشت کې د يو تړون له مخې پيل او يو کال وروسته د زمري په مياشت کې پای ته ورسېدې او د وږي/سنبلې په مياشت کې د افغانستان د هغه وخت حکومت ته وسپارل شو، چې په دې کې د ترمينل ودانۍ، د اوروژنې، مخابرې سټېشنونه او د برېښنا توليدوونکو جنراټورونو ودانۍ هم د تړون له مخې بشپړې شوې. د برېښنا سيستم، د کنټرول برج او نور تجهيزات او همداراز د NDB دستګاه او د هغې انتن هم د همدغه همکار ګروپ له خوا نصب شول او دا ټولې چارې يې د ۱۳۴۴ل کال د لېندۍ په مياشت کې بشپړې کړې. ياد هوايي ډګر د شوروي اتحاد د جنګ پر مهال د ۱۹۸۰ز په لسيزه کې د نظامي موخو لپاره وکارول شو او په يوه نظامي هډه بدل شوی و او د امريکا د يرغل پر مهال هم د ناټو ځواکونو د نظامي موخو لپاره کاراوه، چې د افغانستان ولس ته ترې مرګ‌ژوبله او زيان رسيده، له نېکه مرغه له فتحې وروسته دا هوايي ډګر يو ځل بيا د ملکي هوايي ډګر په توګه اعلان شو او د ۱۴۰۰ل کال د لړم مياشتې په ۳۰مه نېټه ترې په لومړي ځل شل کاله وروسته ملکي الوتنه ترسره شوه او يوې ايرانۍ الوتکې د بشري مرستو په پار پکې په لومړي ځل ناسته وکړه، له دې وړاندې له دې هوايي ډګر څخه يوازې نظامي الوتنې ترسره کېدې. ياد هوايي ډګر د ۲۲۰۰ مترو په اوږدوالي او ۴۳ مترو په پلنوالي ځغاستليکه او د الوتکو د پارکينګ لپاره لس لوی او واړه اپرونونه لري. دغه هوايي ډګر د خپل تاريخي ترمينل او نورو اسانتياوو سره د ننګرهار او ګاونډيو ولايتونو (کونړ، نورستان او لغمان) اوسېدونکو ته د هوايي ټرانسپورټ يوه مهمه زېربنا ده.

### له فتحې وروسته لاسته راوړنې

د ننګرهار هوايي ډګر د امريکا د اشغال پر مهال په بشپړه توګه د نظامي موخو لپاره کارول کېده او د ملکي هوايي چلند کارکوونکو ته د فعاليت اجازه نه وه ورکړل شوې. د بهرنيو ځواکونو او ناټو د غوڅ ملاتړ ماموريت له خوا دا هوايي ډګر د عملياتي اډې په توګه کارول کېده، چې له امله د ملکي الوتنو دروازې تړلې پاتې وې؛ خو د اسلامي امارت له فتحې وروسته، دا هوايي ډګر د ملکي الوتنو لپاره بيا پرانېستل شو او د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت له خوا يې عملياتي چارې د مسلکي او تخنيکي کارکوونکو په لاس ورکړل شوې.

د هوايي ډګر د بيا رغونې او فعالولو لپاره چارې پيل شوې، د کنټرول ټاور مخابراتي او تخنيکي تجهيزات ترميم او تنظيم کړای شول. د ځغاستليکې، ټکسوې او نورو عملياتي ساحو اضافي توکي، خراب وسايل او نور خنډونه پاک کړای شول او د هوايي چلند د نړيوالو معيارونو په رڼا کې د الوتنو لپاره چمتو شول. همدارنګه د مسافرو تاريخي ترمينل چې پخوا نظامي بڼه ورکړل شوې وه، د مسافرو د پروسس او انتظار لپاره بيا ورغول شو. د ترمينل مخې ته د سيمټي ديوالونو موانع لرې کړای شوې او د مسافرو لپاره په زړه پورې چاپيريال برابر کړای شو.

د ملګرو ملتونو د خوراکي پروګرام (WFP)، د سره صليب نړيوالې کمېټې (ICRC) او يوناما په ګډون د نړيوالو موسسو الوتکو له دې هوايي ډګر څخه سلګونه الوتنې په برياليتوب او خوندي توګه ترسره کړې. دغه راز نږدې ۲۸۰۰ مسافرو له دې هوايي ډګر څخه نورو ولايتونو ته تګراتګ کړی، چې ټول اړين خدمات يې د هوايي ډګر مسلکي کارکوونکو له خوا وړاندې شوي دي. سربېره پر دې، د ايران او پاکستان نړيوالو الوتکو هم څو بريالۍ الوتنې ترسره کړې دي.






## د بيارغونې نوې پروژه

په دې وروستيو کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت لخوا د يو ميليون افغانيو په لګښت د ننګرهار هوايي ډګر د بيارغولو، پاکولو او معياري کولو پروژه پيل شوې ده. د دې پروژې په بشپړېدو سره به د هوايي ډګر عملياتي ساحې لا منظمې او د نړيوالو معيارونو سره سمې شي. د اور وژنې لپاره سلنډرونه او د اوروژنې يو موټر چمتو شوی او د هواپېژندنې راپورونه په منظم ډول د پيلوټانو او مرکزي ادارې سره شريکېږي او په دې نږدې کې به يې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت له خوا د ځغاستليکې، ټکسوې، رمپ پراختيا پروژه پيل شي.
په دې وروستيو کې چې په کونړ ولايت کې مرګونې زلزله رامنځته شوه، له ياد هوايي ډګر د زلزله ځپلو لپاره د مرستو په رسولو او د ټپيانو په چټکه لېږدونه کې رغنده رول ولوباوه. جلال اباد هوايي ډګر دا وړتيا لري چې نړيوالې الوتنې ترې پيل او د دې سيمې وګړو لپاره د سفر او سوداګرۍ اسانتياوې رامنځته شي



# فراه هوايي ډګر

د افغانستان په لويديځ کې پروت فراه هوايي ډګر يو له هغو مهمو هوايي تاسيساتو څخه دی، چې د جوړېدو له وخته تر ننه يې د مسافرو او سوداګرو لپاره مهم خدمتونه ترسره کړي دي. دا هوايي ډګر د فراه ولايت د تګ راتګ اړتياوې پوره کوي او د سيمې د اقتصادي، ټولنيزې او ټرانسپورټي ودې لپاره هم مهم رول لري. د اسلامي امارت تر حاکميت وروسته بيا ځلې تجهيز او عصري کولو ته يې جدي پاملرنه شوې ده.

## تاريخي شاليد

د فراه هوايي ډګر د ۱۳۴٦ل کال په اوږدو کې جوړ شو او د ۱۳۴۸ کال په وروستيو کې د ايکاو متخصيص، انجنير ګل علم او محمد نبي علومي په تخنيکي مديريت، د باختر کوچنيو الوتکو د ناستې او الوتنې لپاره چمتو شو. په لومړي پړاو کې يې د ځغاستليکې اوږدوالی ۱۵۰۰ متره او پلنوالی ۳۰ متره و. د غوبي له کودتا وروسته يې ځغاستليکه ترميم، پراخه او وغځول شوه چې اوږدوالی يې ۲زره متره او پلنوالی يې ۴۰ متره ته ورسېد، او د (اې اين ـ ۲٦) او ياک-۴۰ ډول الوتکو د ناستې وړتيا يې ومونده.

## اوسنی تخنيکي جوړښت او ظرفيت

فراه هوايي ډګر اوس له يوې معياري او پخې ځغاستليکې برخمن دی، چې ۲۵۰۰ متره اوږدوالی او ۳۵ متره پلنوالی لري. دا ځغاستليکه د هر ډول ملکي او نظامي الوتکو د ناستې او الوتنې ظرفيت لري، معياري ترمينل لري چې مساحت يې ۴۰۰۰ مربع مترو ته رسېږي او د مسافرو لپاره پکې اړينې اسانتياوې چمتو شوې دي، چې په دې کې ترمينل، VIP ميلمستون، د پارکينګ ساحې، د ساتونکو ټاورونه، پاخه ډيپوګان، جومات، د اطفايې سټېشن، دهواپېژندنې فعال مرکز او د ټرافيک کنټرول ټاور شاملې دي.

## له فتحې وروسته لاسته راوړنې

د اسلامي امارت د حاکميت له پيل سره، دا هوايي ډګر نور هم سمبال شوی. د اطفايې وسايط مجهز شوي، د سپلابونو د مخنيوي لپاره د اوبو ويالو کانال جوړ شوی، د هواپېژندنې سټېشن فعال شوی، د Visat سيستم د نصب له لارې د عبوري الوتنو کنټرول تقويه شوی، ترمينل ته وای فای او انټرنټ برابر شوی او ټولې اداري چارې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د نويو سيستمونو سره همغږې شوې دي، چې له دې سره د ياد هوايي ډګر ظرفيت نور هم لوړ شوی دی.

# باميان هوايي ډګر



باميان چې د افغانستان د تاريخي او فرهنګي ارزښتونو زانګو بلل کېږي، د خپل ښکلي طبيعت او غني فرهنګي میراث تر څنګ، یو معیاري هوايي ډګر هم لري، دا هوايي ډګر د یاد ولایت لپاره د اقتصادي ودې، ګرځندویۍ او بېړنیو خدمتونو لپاره یو بنسټیز ګام ګڼل کېږي.

## تاريخي شاليد

د باميان هوايي ډګر لومړنۍ سروې په ۱۳۴۵ل کال کې د ایکاو متخصیص، انجنیر ګل‌علم او انجنیر میرولي جاناني له خوا د باختر کوچنیو الوتکو د ناستې او الوتنې لپاره ترسره شوه او د جوړېدو چارې یې په ۱۳۴۸ل کالد انجنیر عبدالمجید تر څارنې لاندې بشپړې شوې؛ خو په دې هوايي ډګر کې یوازې کوچنیو الوتکو ناسته کولی شوه او په خامه ډول جوړ شوی و، د معیاري کولو او پراختیا کار یې په ۱۳۹۱ل کې پیل او د ۱۳۹۳ل کال د لړم (۲۰۱۴ز کال نومبر) په میاشت کې یې چارې بشپړې شوې. د دغه پروژې چارې د څه باندې ۱۵ میلیونه ډالرو په لګښت د جاپان هېواد له خوا ترسره شوې، د ۱۳۹۵ل د وږي میاشتې په ۸مه نېټه یې په رسمي ډول پرانېسته وشوه او په رسمي ډول له ملي او نړیوالو هوايي کرښو سره ونښلول شو.

## تخنيکي ځانګړتياوې او تاسيسات

د باميان هوايي ډګر شاوخوا ۱۳۵ جریبه او ۷ بسوه ځمکه کې جوړ شوی دی. د دې هوايي ډګر ځغاستلیکه ۲۲۰۰ متره اوږده او ۳۰ مترو پلنوالی لري. سربېره پردې یو ۱۲۵ په ۷۵ متره ایرون، د مسافرو لپاره معیاري ترمینل، انتظارځای، کنټرول ټاور، د هوا پېژندنې ودانۍ، د اطفایې مرکز، امنیتي دېوال/فینس، د اوبو رسونې سیستم، د وسایطو تمځای او نور کارونه ترسره شوي دي.

## تجهيزات او وسايل

یاد هوايي ډګر په عصري وسایلو سمبال دی، د PAPI څراغونه، د هوا پېژندنې اتومات او لاسي سټېشنونه، د واورې پاکولو موټرونه، سړک پاکوونکي تراکتور، د اور وژنې موټر او نور اړوند وسایط، فلزي کشف دروازې، دوه پایه اېکسرې ماشینونه، د HF, VHF او UHF مخابراتي سیسټمونه او د دفترونو بشپړ تجهیزات شامل دي او د برېښنا مجهز سیسټم لري.

د باميان هوايي ډګر د بېلابېلو کوچنیو او منځنیو الوتکو د ناستې او الوتنې وړتیا لري، چې په دې سره باميان د افغانستان له نورو ولایتونو او حتا له نړیوالو هوايي مرکزونو سره وصل کېږي. د باميان هوايي ډګر د افغانستان د پرمختګ، سیاحت، سوداګرۍ او پانګونې یوه مهمه دروازه ده، خلکو ته د اسانتیاوو تر څنګ د ګرځندویانو او د بېړنیو خدمتونو د چټکتیا په برخه کې د پام وړ ګټې لري.

# کندوز هوايي ډګر



کندوز هوايي ډګر د افغانستان په شمال ختيځ کې يو له هغو بنسټونو څخه دی، چې د تاريخ، خدمت، پرمختګ او تخنيکي جوړښت له پلوه ځانګړی ځای لري. دغه هوايي ډګر چې د ۱۳۳۷ل کال راپه دې خوا فعال دی، د کندوز ولايت لپاره د هوايي تګ راتګ دروازه بلل کېږي او د بېلابېلو ملي او نړيوالو مؤسسو الوتنې ورته ترسره کېږي. ياد هوايي ډګر د اسلامي امارت له بيا حاکميت وروسته بنه بدله شوې ده او يو شمېر مهمې خدماتي او بنسټيزې پروژې پکې عملي شوي دي.

## د کندز هوايي ډګر تخنيکي جوړښت او خدمتونه

دکندوز هوايي ډګر د ۱۸۰۳ جريبه پراخې ځمکې په لرلو سره، چې د فينس ديوالونو له خوا احاطه شوی، له تخنيکي پلوه له غوره هوايي بنسټونو څخه دی. دا هوايي ډګر د ۲۴۶۹ مترو په اوږدولي او ۴۵ متره په پلنوالي يوه پخه ځغاستليکه لري، چې د سترو الوتکو د ناستې او الوتنې لپاره مناسبه ده. همدارنګه د الوتکو د پارکينګ لپاره ۹۰× ۲۰۰ متره اپرون او ټکسوې لري. د کندوز هوايي ډګر دوه ترمينلونه لري، چې نوی ترمينل يې مجهز دی او د ۳۰۰ مسافرو د ځايولو ظرفيت لري. د الوتنو د کنټرول لپاره يو عصري ټاور او نور اړين وسايل لري، چې د افغان مسلکي کارکوونکو لهخوا اداره کېږي. د اور وژنې برخه يو فعاله اور وژونکی موټر، مجهز وسايل او روزل شوی پرسونل لري. د هوا پېژندنې برخه دوه اتومات او کلاسيک ماشينونه لري، چې د مرکز او هوايي شرکتونو لپاره دقيق راپورونه برابروي. د لمريزو وسايلو او پنځو جنراتورونو په مرسته، هره ورځ لازم برېښنايي او تخنيکي خدمتونه برابرېږي. مالي، اداري او املاکي برخې له عصري سيستمونو سره سم فعاليت کوي دا هوايي ډګر اوس هم د يونهاس، سرې مياشتې، يوناما او پکټيک موسساتو له خوا هره اونۍ ترې په منځنۍ کچه له ۸ تر ۱۲ الوتنې ترسره کېږي.

## له فتحې وروسته لاسته راوړنې

د اسلامي امارت تر بيا حاکميت وروسته، د کندوز هوايي ډګر په بېلابېلو برخو کې د پام وړ پرمختګونه شوي دي. د هوا پېژندنې سټېشن اساسي ترميم شوی، د بېړنيو حالاتو لپاره اطفايه او اړين وسايل چمتو شوي دي او د ترمينل لپاره ۴۰۰ کيلو واټه برېښنا لرونکی برج نصب شوی دی. همدارنګه د کارکوونکو د ظرفيت لوړونې ته ځانګړې پاملرنه شوې، د بګاژ د معاينې لپاره لوی اکسرې ماشين نصب شوی او د نوي ترمينل د اوبو سيستم هم تنظيم شوی دی، چې د هوايي خدماتو د لا ښهوالي، خونديتوب او چټکتيا لپاره مهم ګامونه بلل کېږي.
کندوز هوايي ډګر د افغانستان د شمال ختيځ زون يو مهم هوايي مرکز ګڼل کېږي. دا هوايي ډګر له تخنيکي، امنيتي، اداري او خدماتو له پلوه د پرمختګ په لور روان دی، چې هم د کورنيو الوتنو لپاره زمينه برابروي او هم د نړيوالو مؤسسو اړتياوې پوره کوي.
د ننګرهار، باميان، فراه او کندوز هوايي ډګرونه د افغانستان د سيمهييزو ټرانسپورټي بنسټونو هغه مهمې بېلګې دي، چې د اسلامي امارت له حاکميت وروسته پکې مهم پرمختګونه راغلي دي او د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت ورته ځانګړې پاملرنه کړې ده. ياد هوايي ډګرونه د مسافرو د خدمت، اقتصادي فرصتونو، بشري مرستو انتقال او سيمهييزې همغږۍ لپاره غوره امکانات برابر کړي دي. د دغو هوايي ډګرونو رغونه او پراختيا د هېواد د يووالي، اقتصادي ودې مهم پُلونه دي، چې نړۍ او لرې پراته ولايتونه سره نښلوي او خلکو ته د سفر او ګرځندويۍ اسانتياوې برابروي.

# یو ښه موټرچلوونکی
## باید کومې خبرې په پام کې ونیسي؟



ژباړه او لنډیز



دا چې ښه موټرچلوونکی یا موټروان څه ډول وي، د دې پوښتنې لپاره داسې ځواب نهشو پیدا کولی، چې په مکمل ډول دې پوره وي، مګر په ډېرو ځایونو کې ویل کېږي، چې په نړۍ کې برېتانیایي موټرچلوونکي تکړه دي. خو دا خبره ممکن په خپله د هغه ځای موټرچلوونکي وکړي، خو سمه خبره دا ده او یا ښه موټر چلوونکی هغه مهال معلومېږي، چې ته په موټر کې ورسره ناست وې، بیا په خپله محاسبه کولی شې.

یو ښه موټرچلوونکی زموږ سړکونه او واټونه خوندي کوي، د تېلو، د وسایطو د ساتنې او نورو برخو په لګښت کې سپما راولي، آن ستا د ذهني سکون د ارارم لامل کېږي، ځکه د سفر شېبې په یوه ښه تجربه بدلوي او مسافر له خپل سفر څخه خوند اخېستلی شي.

که څه هم دا لیکنه یو څه دوستانه اړخ لري، خو په لوستلو یې یو موټر چلوونکی کولی شي، د خپل چلند کیفیت یو ځل بیا وڅېړي او کومې برخې چې ورته اړتیا ده، پکې اصلاحات راولي؛ ځکه چې هیڅوک بشپړ نه دی او له خپلو تېروتنو زدهکړه د یو ښه موټرچلوونکي ځانګړنه ده.

دلته د یو ښه موټرچلوونکي ځینې مهمې ځانګړنې درسره شریکوو:

## له روانېدو وړاندې چمتووالی

دا خبره مشهوره ده، چې باید وسایل ملامت نه کړو، ځکه وسیله سره اوسپنه ده، ملامت هغه ګڼل کېږي، چې دا وسیله چلوي. موټرچلوونکی چې موټر ته پښه ورپورته کوي، باید لومړی دا پوښتنې له ځان څخه وکړي:

ایا د موټر ټایرونه جوړ دي؟

په ډبه کې کافي اوبه شته، چې په سفر کې پرې ښیښه ووینځل شي؟

ایا د موټر له حرکت نه وړاندې د موټرچلوونې لپاره په مناسب ځای کې ناست یې او ټولې هنداړې دې په سمه توګه برابرې کړې دي؟

یو ښه او تکړه موټرچلوونکی وړاندې له دې چې موټر چالان کړي، له دې ټولو مواردو ځان خبر ساتي.

## خوندي چلونه

کله چې خبره د موټر چلولو فزیکي اړخ ته راځي، ډېر مهم دي چې د سړک له سطحې څخه خبر واوسی، چې سړک خو به لوند، خټې، شګه، یخ او نور مشکلات نه لري؟ ځکه دا حالات وژونکي تمامېدلی شي.

نو مهمه ده، چې کنټرول مو وساتئ او دا کار تاسو هغه مهال کولی شی، چې سرعت مو کم کړی او ټولې کړنې مو په پوره ارامۍ ترسره کړی.





همدارنګه په نشه، ستړیا او بې‌خوبۍ کې موټر چلول ډېر خطرناک او غیرمسؤلانه کار دی، ځان هوسا ساتل او احساسي کنټرول هم د یو ښه موټرچلوونکي مهمې برخې دي، ځکه چې سړک له ډېرو نورو موټرچلوونکو سره شریکېږي، نو که هر څومره ډېر مهارت لرې، که سم ذهنیت او ښه چلند و نه لرې، له مشکل سره مخ کېږې.
بې ځایه پرېشاني، بې صبري او غوسه کېدل، ستاسې سړتیا او فشار زیاتوي، چې دا د موټرچلونې پر مهال خطرناک تامېدلی شي.
صبر کول، زغم درلودل او ارام اوسېدل د یو ښه او خوښ موټر چلوونکي نښې دي.

## له وسایلو سره بلدتیا

یو ښه موټرچلوونکی پوهېږي چې د موټر ټولې وسیلې چېرته دي او څرنګه کارېږي. د اشارو، د شپې مهال دڅراغونو سمه کارونه چې بل موټر ته مشکل جوړ نه کړي او د مقابل موټرچلوونکي سترګې و نه برېښوي. دا ټول د خوندي موټرچلونې مهم اصول دي.
د موټر د سویچ بورډ خبرداري څراغونه هم ډېر مهم دي. ممکن د پېټرول څراغ څو ورځې روښانه پرېږدې، خو د نورو اخطاري څراغونو نادیده ګڼل جدي ستونزې جوړولی شي. که ستا موټر ګېر وي، نو باید ګېرلیور یوازې د ګېر بدلولو پر مهال ونیول شي او په بېړني حالت کې باید ستا لاس ازاد وي.

## ځیرکتیا او تمرکز

ډېر کله ستاسې پام په بله تللی شي، چې دا ډېر خطرناک دی، دا موضوع باید له ټولو مهمه وګڼل شي او د یو موټرچلوونکي پام باید خپل موټر او سړک ته وي؛ ځکه چې په سړک کې ګڼ احتمالي خطرونه شته، لکه: ممکن ماشومان د تم شوي موټر شا څخه راووځي، د سړک په منځ کې ځاروي، داخلي لین ته د بایسکل ناڅاپي راختل، د سړک خرابوالی، کنده، ناڅاپي جمپ راتلل، د نورو چلوونکو بې‌پامي... نو موټرچلوونکی باید تل ځیرک واوسي او تمرکز یې پر ځای وي، تر څو پر وخت له یوه خطر څخه مخنیوی وکړای شي.

## د موټرچلونې مهارت

ډېر کسان یوازې په لومړنۍ ازموینه کې ګډون کوي او وروسته بیا په عادتونو موټر چلوي. تمرین له تاسو سره ډېره مرسته کوي، ډېر ښه‌والی راولي، مګر واقعي مهارت دا دی چې موټر په نرمښت او مهارت سره وچلوي.
ښه موټرچلونه له یوې خوا ستا د موټرچلونې سټایل ښه کوي او له بلې خوا مو د موټر وسایل له خرابېدو څخه ژغوري.
بې‌ځایه کلچ نیول، له اندازې زیات کړندي تلل، بې ځایه سخت بریک نیول، دا ټول هغه ناوړه کړه دي، چې یو ښه موټرچلوونکی یې نه ترسره کوي او د موټر د خرابېدو لامل هم کېږي.



### د سړک او نورو چلوونکو لوستل

ځيني وختونو کې یوازې د سړک د ښښو لوستل بسنه کوي، خو په واقعیت کې باید د نورو موټرچلوونکو چلند هم ولوستل شي. یو ښه موټرچلوونکی هېڅکله دا فکر نه کوي، چې بل موټرچلوونکی به څه وکړي د ده وړاندوینه باید له وړاندې وکړای شي؛ بلکې تل د هر حالت لپاره چمتو وي. دا د ډېرو شاته ټکرو مخنیوی کوي.
که د موټرچلونې لایسنس اخیستو له ازموینې مو ډېر وخت تېر شوی وي، کېدای شي ځینې مهمې ښښې دې هېرې شوې وي.
د هغوی پېژندل او بیا یې رایادول ستا چلونه خوندي کوي. یو ښه موټرچلوونکی باید د سړک هرې کرښې او ښښې ته پام وکړي او نادیده یې و نه ګڼي.

### مؤدبانه او مهربان چلند

مهرباني هیڅ لګښت نه لري. که تاسې ډېره بېړه ولرئ او نه غواړئ د موټرو یو لوی کتار تا خپل لاین پرېږدی، بیا هم کولی شئ یو مؤدب او با اخلاقه موټرچلوونکی واوسئ او دا د یوه ښه او غوره موټر چلوونکي تر ټولو مهمه ځانګړنه ده.
بایسکلچلوونکو او پلي تګ کوونکو ته د تېرېدو لپاره کافي ځای ورکول، دا خیال ساتل چې په دوه لارو او څلورلارو کې به د نورو لاره نه بندوئ او په هغو لارو به نه ځئ چې ستاسو لپاره نه دي، دا ټولې چارې د دې لامل کېږي، چې د موټرو حرکت جاري او هر څوک خوندي پاتې شي.
یوه کوچنۍ اشاره، لکه د لاس په اشاره تشکر کول هم ډېر اغېز لري او ستاسو د ښه چلند ښکارندويي کوي.
د موټر د پارک کولو او تم کولو لپاره باید لومړی ځای پیدا کړې،کله چې یو بې باکه موټر چلوونکی خپل موټر په پلې لار/پیاده‌رو دروي، د خلکو د تګ راتګ لاره بندوي او دا کار د دې لامل کېږي، چې پلي خلک، د ویلچر کاروونکي، ماشومان، او نور کمزوري او معذوره کسان د سړک له منځه تېر شي، دا کار بې‌مسؤلیته او ډېر ناوړه کار دی.
تل له ځان سره ژمنه کوئ، چې خپل سفر به په ښه او خوندي ډول پای ته رسوئ.

### نورو ته ځای پرېښودل

دا موضوع د «مهربانۍ» تر عنوان لاندې هم راتلای شوه؛ خو دومره مهم ده چې باید خپل جلا سرلیک ولري، ځکه چې نورو ته ځای ورکول یعنې خوندیتوب!
تل دا عادت وګرځوئ، چې په سړک باندې ټولو ته کافي ځای پرېږدئ.
ځای ورکول پدې معنا دي چې هر چاته ډېر وخت او فرصت ورکول کېږي ترڅو خطر له مخکې ووینې او په ارامۍ سره ورته ځواب ووایي.

ځيني وختونه فاصله نه مراعت کول نه يوازې ځورونکی دی، بلکې خطرناکه عادت هم دی چې نور موټر چلوونکي تر فشار لاندې راولي او تېرباسي يې.
په هر ډول سړک چې ياست، حتا په بنده لار او يا ورو تلونکو موټرو په کتار کې هم، ښه ده چې له مخکې موټر څخه کافي واټن وساتی. دا کار د اړتيا پر مهال د نورو موټرو شاوخوا گرځېدل اسانوي، که ناڅاپه مخکينی موټر شاته راشي، د ټکر خطر کموي او که له شا موټر په تاسو ولگېږي، زيان به يې ډېر کم وي.
که تاسو له شاتني موټر څخه چې ستاسې په موټر پسې نږدې روان دی، ځورېږی، نو معقوله مشوره دا ده، چې شاتني موټر ته ډېره توجه مه کوئ، په سړک او مخکې تمرکز وکړئ.
که بل لين کې ځای وي، موټر مو له خطر څخه ليرې کړئ او بل لين ته واوړئ.
که حالات مناسب وي، په قانوني سرعت کې يا يو څه ورو روان شئ. که چېرې خدای مه کړه په داسې مهال کومه پېښه هم رامنځته کېږي، نو ټکر يا زيان به يې دومره جدي نه وي.

## پر ځان باور

که څه هم د سړک او نورو کاروونکو درناوی ډېر مهم دی، خو وېره لړل، شک کول يا په خطرناک ډول ډېر ورو او په وېره موټر چلول تاسو د يوه «ناخبره او ناامنه» موټر چلوونکي په توگه پېژندلی شي.
که تاسو ټول سم قوانين مراعت کوئ، نو داسې موټر وچلوئ، چې پر ځان باوري وی.
ډېر خلک په خرابې هوا او تياره کې له موټر چلولو خوښ نه وي، خو که دا واقعاً ستاسو پر چلولو منفي اغېز کوي، نو بايد دوه ځلې فکر وکړئ چې آيا په داسې حالاتو کې موټر وچلوئ او که نه؟






# د نړيوال هوايي ټرانسپورټ اتحاديې
## رول او اهميت

د نړيوال هوايي ټرانسپورټ اتحاديه (IATA) د نړۍ د هوايي چلند په برخه کې يوه له مهمو او اغېزناکو موسسو څخه ده، چې د هوايي ټرانسپورټ د پراختيا، تنظيم او خونديتوب لپاره خپلې چارې پر مخ وړي. دا اتحاديه، چې په ۱۹۴۵ز کال کې د کيوبا په پلازمېنه هاوانا کې د ۲٦۰ مشهورو هوايي شرکتونو له خوا تاسيس شوه، د دويمې نړيوالې جګړې وروسته د هوايي ټرانسپورټ د چټکې پراختيا له امله رامنځته شويو ستونزو ته د حل لارې موندلو په موخه جوړه شوه. د IATA اصلي مرکز د کاناډا په مونټريال ښار کې دی، خو د مالي کمېټې مرکزي دفتر يې د سويس په جينوا ښار کې موقعيت لري. دا اتحاديه د ۱۹۱۹ز کال د لاهه په ښار کې د تاسيس شوې نړيوالې هوايي ترافيکي ټولنې ځای ناستې ده او اوسمهال د نړۍ ۸۳ سلنه هوايي ترافيک د دې اتحاديې تر چتر لاندې فعاليت کوي.

## د IATA ماموريت او موخې

IATA د هوايي سفرونو د خونديتوب، نظم او اقتصادي پراختيا لپاره کار کوي. دا اداره د نړيوالو هوايي شرکتونو ترمنځ د همکارۍ لپاره يو مهم پليټفارم دی، چې د هوايي ټرانسپورټ په اړه د سوداګريزو او تخنيکي مسايلو په حل کې مرسته کوي. د دې اتحاديې يوه له مهمو دندو څخه د درې توريزو (Three-Letter Code) کوډونو جوړول دي، چې د نړۍ هر هوايي ډګر د يو ځانګړي کوډ له لارې پېژندل کېږي. دا کوډونه چې د نړيوالو معيارونو پر بنسټ جوړېږي، د هوايي ډګرونو د تنظيم او د خدماتو د کيفيت د څارنې لپاره کارول کېږي او په ټوله نړۍ کې د باور وړ دي.IATA د نړيوالو سازمانونو لکه د نړيوال هوايي چلند سازمان (ICAO)سره همکاري کوي او د هوايي شرکتونو او دولتونو ترمنځ د اړيکو د پُل په توګه کار کوي. دا يو غير دولتي، غير سياسي سازمان دی، چې غړيتوب يې د هغو هوايي شرکتونو لپاره اختياري دی، چې د ICAO غړو هيوادونو په اجازه فعاليت کوي او منظمې نړيوالې الوتنې لري.

## د IATA جوړښت او فعاليتونه

د IATA اتحاديې مالي، حقوقي، تخنيکي، ترافيکي او طبي کمېټې لري، چې هره يوه يې په خپله برخه کې تخصصي فعاليتونه ترسره کوي. د بېلګې په توګه د دې اتحاديې د مالي کمېټې يوه مهمه اداره د حساب تصفيې اداره (Clearing House) ده، چې د سويس په جينوا کې موقعيت لري. دا اداره هوايي شرکتونو ته دا امکان برابروي، چې خپل عايدات د خپل انټرلاين سيسټم له لارې په اسانۍ تصفيه کړي. دا سيسټم د شرکتونو ترمنځ مالي همکاري پياوړې کوي او د هوايي ټرانسپورټ سوداګريز موثريت زياتوي.

## د افغانستان ګډون

د افغانستان لپاره د IATA اهميت له پامه غورځول کېدونکی نه دی. د آريانا افغان هوايي شرکت په ۱۹۷۰ز کال د نومبر په ۱۲مه د IATA غړيتوب ترلاسه کړ، چې دا د افغانستان د هوايي چلند په تاريخ کې يو مهم ګام و. د دې غړيتوب له لارې، آريانا افغان هوايي شرکت وکولی شو، چې نړيوالو معيارونو سره ځان برابر کړي او د نړۍ له نورو هوايي شرکتونو سره په همغږۍ کار وکړي.

## ولې IATA مهم دی؟

IATA د هوايي ټرانسپورټ د تنظيم او خونديتوب لپاره کار کوي او د مسافرو لپاره هم يو اسان او باوري سيسټم رامنځته کوي. د دې اتحاديې له لارې نړيوال هوايي سفرونه منظم شوي، د الوتنو خونديتوب تضمين شوی او د هوايي شرکتونو ترمنځ همکاري پياوړې شوې ده.

د نړيوال هوايي ټرانسپورټ اتحاديه (IATA) د نړيوال هوايي چلند د پرمختګ او تنظيم لپاره مهم رول لري. دا اداره د هوايي شرکتونو، دولتونو او مسافرو ترمنځ د اړيکو په پياوړتيا او د هوايي ټرانسپورټ د خوندي او اقتصادي پراختيا لپاره نه ستړې کېدونکې هڅې کوي. د دې اتحاديې د فعاليتونو او معيارونو له امله هوايي سفرونه ډېر منظم، خوندي او اغېزناک دي او د دې اتحاديې رول د هوايي چلند په صنعت، د نړيوالې سوداګرۍ او اقتصاد په وده کې هم د پام وړ بلل کېږي.



# کومه لاره غوره کړو، لنډه که اوږده؟

مفتي عزيز الرحمن عزيزي

هر چا ته جوته شوې، چې موخو ته رسېدل بېلابېلې لارې لري ځينې لارې لنډې او ځينې اوږدې وي، ډېر کرته اوږدې لارې نېغې او سمې وي، که څه هم له ستړيا ډکې وي، لنډې لارې اسانه، خو له غمو ډکې وي. د فارسي ژبې يو متل دی: "براه راست برو، اگر چه دور باشد" يعنې په سمه او ربښتينې لاره روان شه، که څه هم دا لاره اوږده او ستونزمنه وي.

له دې متل څخه خورا خبرې څرگندېږي، ډيری خلک سمه لار پرېږدي په نا ممکنو لارو مزلونه کوي، لکه پياده رو سړک پرېږدي، په عمومي سړک مزل کوي، دروازه پرېږدي، په ديوال اوړي، پوله پرېږدي، په کرلي يا شنه کې لاره باسي.

کوم ځای کې چې اجازت ته اړتيا وي بې اجازې ورد ننه کيږي، موانعو ته پاملرنه نه کوي، په ازدحام کې د اړو خلکو لاس نيوی نه کېږي، ناچاره خلک تل له پامه غورځول کېږي. قانوني او اصولي مسير پرېږدي په ناقانونه لارو کې مزلونه کوي، ترافيکي قوانين نه مراعت کېږي، چې له امله يې هېوادوال له سترو مالي او بدني ستونزو سره مخ وي، د يوې ورځې ستونزې له امله نه يوازې خپله کورنۍ د وير په ټغر کېنوي، بلکې لسگونه کورنۍ بې سرپرسته او په کورونو يې د غم ساندې وغږولې. وړه تېروتنه د لويې فاجعې لامل گرځي، که دې ته متوجه شو چې دا ولې، چا او د څه لپاره؟

يادې پوښتنې په لنډو تکو ځواب کولی شو، څو موږ اسلامي دريځ او د انسانيت لپاره جوړ قانون په خپل ژوند کې پلې کړو، که موږ د لنډې ستونزمنې لارې پر ځای سمه لار غوره کړو او اوږدوالی يې په نظر کې و نه نيسو، د انسانيت لپاره چمتو شوی قانون تر پښو لاندې نه کړو، هر څوک په خپله تگلاره تگ پيل کړو د بل درد او ستونزې په پشپړه توگه درک او انساني حقوقو ته ژمن پاتي شو، انسانان خو څه چې فرښتې به په اسمان کې هم وياړ راباندې کوي، له هر ډول ناخوالو او منازعو څخه به بچ او هرو مرو به د يوې نېغې او مستقيمې لارې لاريوان گرځو.

لکه څرنگه چې په يوه کړنه کې ظاهري گټې ليدل کيږي، بايد معنوي او د بل گټې هم په پام کې ونيول شي. ډېری خلک خپل کور پاک ساتي؛ خو د کور مخه نه صفا کوي، پر ځای ددې چې لاره سمه او پخه کړي بلکې د کور ټول گندونه هم

ورته راغورځوي سره له دې چې په پنځه وخته لمانځه دا دعا هم کوو:اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ (اې الله! موږ ته سمه ( نېغه) لاره وښايه).
د دې دعا موخه همدا ده، چې په چارو کې د نېغې لارې غوښتنه کوو، لکه څرنګه چې د ژوند چارې خپل اداب لري، دغه ډول لاره هم خپل حقوق او د يو لاروي لپاره خپل اداب دي. له ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: په لارو کې له کېناستلو ډډه وکړئ!
صحابه کرامو عرض وکړ: ای د الله رسوله! موږ خو مجبوره يو، دا زموږ د ناستې ځايونه دي، چېرته به خبرې اترې وکړو ؟
نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: که چېرته تاسې د ناستې څخه بله چاره نه لرئ، نو بيا لارې ته يې حق ورکړئ.
صحابه کرامو وپوښتل: "ای د الله رسوله! د لارې حق څه دی؟ نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل:
"سترګې ښکته ساتل، د اذی څخه خلک بندول، سلام ته ځواب ورکول، د ښه کار امر کول او له بدو کارونو منعه کول. (رواه البخاري رقم الحديث ٦٢٢٩)
ابن حجر عسقلاني رحمه الله د ياد شوي حديث په اړه وايي "چاته ستونزه مه رسوئ" د خلکو له ازار څخه ډډه وکړئ، بايد يو څوک د سړک پر يو داسې ځای کې ناسته و نه کړي، چې د خلکو د تګ راتګ مخه ډب کړي، يا تنګوالی راولي او نه بايد د داسې کور مخې ته کېني، چې د کور خلک د ده له ناستې ازار ويني، يا يې پرده او محرميت ته ستونزه رسېږي. دا خبره قاضي عياض کړې او ويلي يې دي: کېدای شي مطلب دا وي چې هر انسان بايد د نورو له ازار رسولو ځان وساتي.
په صحيح حديث کې راغلي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: ځان له شره وساتئ، (چاته شر مه رسوئ) دا هم صدقه ده.(فتح الباري لابن حجر العسقلاني ص ١١/ ج ١٢)
ابو هريره رضي الله عنه روايت دی وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:د دوو لعنتي کړنو څخه ځان وساتئ! صحابه کرامو ترې وپوښتل: ای د الله رسوله! دا دوه لعنتي کړنې کومې دي؟
نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: هغه څوک چې د خلکو په لاره کې او يا د دوی د سيورې په ځای کې قضای حاجت ترسره کوي.(رواه ابي داود رقم الحديث ٢٥)
له پورتني رواياتو څرګنده شوه، هغه اوږدې لارې چې خلک پرې تګ راتګ کوي بايد له هر ډول ستونزو رسولو څخه ډډه وکړئ، فکر وکړئ چې په کومې کړنې اسان ځورېږي او د خنډ لامل ګرځي، هغه بايد ترسره نه شي، بايد د ستونزو مخنيوی وکړئ.
ابو هريره رضی الله عنه وايي: رسو اکرم صلی الله عليه وسلم فرمايي: په موږ کې يو سړی چې په يوه لار روان و، ناڅاپه يې يوه اغزنه څانګه ومونده، هغه يې د لارې څخه لرې کړه، الله تعالی دده دا عمل خوښ شو او ښښنه يې ورته وکړه.( رواه الترمذي رقم الحديث ١٩٥٨)
نو اوس دې خوښه، لنډه لار غوره کوې او که اوږده؟
که لاره اوږده او نېغه وي، تر هغې لارې غوره ده، چې لنډه خو زيان رسوونکې وي. تل د خپلو ګټو په لټه کې مه اوسيږئ بايد د نورو ګټې هم په پام کې ونيول شي.
د نيغې او مستقيمې لارې ټاکنه او انتخاب نه يوازې موږ له ستونزو او مشکلاتو ژغوري؛ بلکې د نورو لپاره هم د خير او برکت لامل ګرځي.



# کړنې او لاسته‌راوړنې

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د ۱۴۰۴ل کال په دويمه ربع کې چې کومې کړنې او لاسته‌راوړنې ترسره شوې دي، ځينې يې دلته لوستلی شئ!

- له منځنۍ اسيا سره د ټرانسپورټي او ټرانزيټي اړيکو پراختيا.
- د مولانا جلال‌الدين محمد بلخي نړيوال هوايي ډګر کې نوي پرمختګونه.
- د هواپېژندنې عصري دستګاوو نصبول.
- دست‌آوردهای تازه در خدمات ترانسپورتی.
- د ټرانسپورټي زېربناوو د پراختيا او معياري کولو مهم ګامونه.
- د بښرنې او کندز هوايي ډګرونو پرمختګونه.
- د کابل څرخي پله کې د برېښنايي دروازې (ټول‌ګېټ) پروژه.
- د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د يو کلنو لاسته‌راوړنو راپور.
- انتقال زمین‌های امارتی؛ گامی بنیادین برای تحول در بخش ترانسپورت کشور.
- د درېيو مياشتو په موده کې د ځينو ترسره شويو غونډو، لېدنو او کړنو لنډ خبرونه.
- د واټ ټرانسپورټ په برخه کې برېښنايي سيسټم پيل او د فزيکي پيسو پای.





# له منځنۍ اسيا

## سره د ټرانسپورټي او ټرانزيټي اړيکو پراختيا



د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په وروستيو کې د سیمه‌ییزو او نړیوالو همکاریو د پراختیا په موخه یو لړ مهمې لیدنې او موافقتنامې ترسره کړې دي. دا لیدنې د قزاقستان، قرغیزستان او د روسیې فدراسیون د تاتارستان جمهوریت له لوړپوړو چارواکو سره شوې، چې موخه یې د ټرانسپورټي او ټرانزیټي اړیکو پیاوړتیا او د سوداګریزو تبادلاتو زیاتوالی دی.

## د قرغیزستان سره ټرانسپورټي او ټرانزیټي همکاریو ته وده ورکول

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزیر الحاج ملا حمیدالله اخندزاده په کابل کې د قرغیزستان جمهوري هېواد سفیر تورداکون سیدیکوف سره په خپل کاري دفتر کې وکتل. په دې لیدنه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د ټرانسپورټي او ټرانزیټي اړیکو د پیاوړتیا، د سوداګریزو مالونو د لېږد زیاتوالي او نورو اړوندو موضوعاتو په اړه خبرې وشوې. محترم وزیر صاحب وویل، چې اسلامي امارت چمتو دی له خپلو ټولو ځمکنیو او هوايي ټرانسپورټي تاسیساتو څخه په ګټې اخیستنې سره د قرغیزستان هېواد سره د ټرانسپورټي او ټرانزیټي اړیکو پراختیا ته لاره هواره کړي. د قرغیزستان سفیر هم وویل، چې د بیشکک او کابل ترمنځ ټرانسپورټي اړیکې حیاتي ارزښت لري او هېواد یې د دې اړیکو د پیاوړتیا او پراختیا غوښتونکی دی. دا مذاکرات د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي او لوژستیکي همکاریو د نوي پړاو پیل ښیي.

## د تاتارستان سره د ټرانسپورټي او لوژستیکي اړیکو نوې هیلې

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزیر الحاج ملا حمیدالله اخندزاده، د روسیې فدراسیون د تاتارستان جمهوریت د لومړي وزیر له مرستیال اولیګ کوروبچینکو او د هغه مل پلاوي سره په کابل کې وکتل. په دې ناسته کې د دواړو لورو ترمنځ د ټرانسپورټي او لوژستیکي اړیکو د جوړولو او پراخولو، د کوماز ډوله وسایطو لپاره د یو معیاري ورکشاپ د پرانیستلو او د سوداګریزو توکو د لېږد زیاتوالي په اړه بحث وشو. وزیر صاحب وویل، چې د تاتارستان پانګوال کولی شي په افغانستان کې د ټرانسپورټ او لوژستیک په برخه کې پانګونه وکړي او دا زمینه ورته په بشپړ ډول برابره ده. د تاتارستان د لومړي وزیر مرستیال وویل، چې د دواړو لورو ترمنځ به ژر مستقیمې الوتنې پیل شي او هېواد یې د افغانستان سره په بېلابېلو برخو کې د همکاریو لپاره چمتو دی. دا لیدنه د دواړو لورو ترمنځ د اقتصادي او ټرانسپورټي اړیکو د پراختیا لپاره یو مهم فرصت دی.

## د قزاقستان سره د ټرانسپورټي اړیکو پراختیا

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د واټ ټرانسپورټ معین الحاج ملا عبدالسلام حیدري په کابل کې د قزاقستان د ټرانسپورټ وزارت له مرستیال، کالیاکپاروف ماکسات سره وکتل. په دې لیدنه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د واټ ټرانسپورټ نړیوالې موافقتنامې او د کابل-استانه ترمنځ د مستقیمو الوتنو د پیل په اړه بحث وشو. ښاغلي حیدري وویل، چې د قزاقستان سره د ټرانسپورټي اړیکو پراختیا د افغانستان د سیمه‌ییزو او نړیوالو همکاریو د ستراتیژۍ مهمه برخه ده او تمه ده چې دا موافقتنامې به د دواړو هېوادونو او سیمې ترمنځ د سوداګریزو او ټرانزیټي اړیکو په برخه کې بدلون راولي. د قزاقستان مرستیال وزیر هم د ټرانسپورټ په برخه کې د افغانستان سره د هر اړخیزو اړیکو پر پراختیا ټینګار وکړ. دا لیدنه د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي اړیکو د پیاوړتیا لپاره یو مهم ګام دی.

د قرغیزستان، تاتارستان او قزاقستان هېوادونو سره د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت وروستۍ لیدنې د افغانستان د نړیوالو او سیمه‌ییزو ټرانسپورټي اړیکو د پیاوړتیا لپاره یو مهم پړاو دی. دا هڅې د مستقیمو الوتنو د پیل، د واټ ټرانسپورټ موافقتنامو او د لوژستیکي تاسیساتو د پراختیا له لارې د سوداګریزو مبادلاتو د زیاتوالي او اقتصادي ودې لپاره نوې لارې پرانیزي. دغه همکاریو ته دوام ورکول به د افغانستان د ټرانسپورټي زېربناوو پیاوړتیا تضمین کړي او د سیمې په کچه به د اقتصادي او لوژستیکي اړیکو د پراختیا لپاره هم یوه نوې لاره هواره کړي.



# د مولانا جلال‌الدين محمد بلخي
## نړيوال هوايي ډگر کې نوي پرمختگونه

د مولانا جلال‌الدين محمد بلخي نړيوال هوايي ډگر، چې له نن څخه ٦٠ کاله وړاندې د بلخ ولايت مزارشريف ښار د ختيځ په نهه کيلومترۍ کې په لومړنۍ بڼه جوړ شو، په ۱۳۹۲ل کال پکې پراختيا رامنځته شوه او اوس د هېواد يو پرمختللی هوايي ډگر گڼل کېږي.

په دې وروستيو کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د دې هوايي ډگر د لا پراختيا لپاره مهم گامونه اخيستي دي، چې په دې سره به د مسافرو خدمتونو کې ښه‌والی راشي او د سيمې اقتصادي ودې لپاره هم خورا اړين دي. په دې لنډه مقاله کې د ياد هوايي ډگر وروستيو پرمختگونو ته يوه کتنه کوو:

## د ځمکنيو خدمتونو تړون

د دې ډګر تر ټولو مهم پرمختګ د ځمکنيو خدمتونو د ترسره کولو تړون دی، چې د پنځو کلونو لپاره د بلخ هوايي خدمتونو له يوې خصوصي کمپنۍ سره لاسليک شو. دا تړون د هوايي چلند عملياتي معين الحاج مولوي فتح الله منصور له خوا لاسليک شو او موخه يې د هوايي ډګر د خدمتونو معياري کول، منظمول او د مسافرو لپاره د لا زياتو اسانتياوو رامنځته کول دي. دغه اقدام د شمالي زون د مسافرو لپاره د خدماتو د کيفيت په لوړولو کې يو مهم ګام ګڼل کېږي.

## د معياري انتظارځای پروژې پرانيسته

د دې هوايي ډګر بل مهم پرمختګ د معياري انتظارځای او د موټرو تمځای پروژه ده، چې د ۸۸ مليونو افغانيو په لګښت د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د مسئولينو په ګډون د يو لړ مراسمو په ترڅ کې پيل شوه. دا پروژه به د مسافرو لپاره معياري انتظارځای، د موټرو لوی تمځای او نورې اړينې اسانتياوې ولري او چارې به يې د يو کال په موده کې بشپړې شي.

## د څلورلارې پروژه

په مولانا جلال‌الدين محمد بلخي نړيوال هوايي ډګر کې د څلورلارې جوړولو پروژه، چې د څه باندې يو مليون افغانيو په لګښت بشپړه شوه، د هوايي ډګر د پرمختګ او ښکلا لپاره يو مهم ګام بلل کېږي.
د دې پروژې د پرانېستې په مراسمو کې د څلورلارې ترڅنګ د اوبو رسولو شبکه، شنې ساحې او د څراغونو (لايټينګ) سيستم هم ګټې اخيستنې ته وسپارل شو، چې د مسافرو او کارکوونکو لپاره يې يو ښايسته او منظم چاپېريال رامنځته کړی دی. دغه تاسيسات د هوايي ډګر د ښکلا زياتوالي تر څنګ د موټرو د ترافيک کنټرول او د شپې له خوا د الوتنو د خونديتوب لپاره هم اړين ګڼل کېږي.
ياده پروژه د هوايي ډګر په عمومي منظمولو کې مهم رول لري او د مسافرو لپاره د يوې خوندي، ښکلې او معياري فضا په رامنځته کولو کې اغېزناکه تمامېږي.

## د بادي کڅوړو نصبول

د هواپېژندنې رياست له‌خوا د مولانا جلال‌الدين محمد بلخي نړيوال هوايي ډګر کې نوې بادي کڅوړې ولګول شوې. دغه کڅوړې د باد د لورې او شدت په معلومولو کې مرسته کوي او د الوتنو د خونديتوب لپاره اړينې دي.
بادي کڅوړې د الوتنو د خونديتوب لپاره بنسټيز ارزښت لري او د پيلوټانو لپاره د هوا د حالاتو د درک يوه مهمه وسيله ده.

## د جومات بيا رغول

په مولانا جلال‌الدين محمد بلخي نړيوال هوايي ډګر کې جومات په اساسي ډول ورغول شو دروازې، کړکۍ، رنګ او فرش په بشپړه توګه ترميم او بيا د مسافرو او کارکوونکو د ګټې اخيستنې لپاره وسپارل شو.
مولانا جلال‌الدين محمد بلخي نړيوال هوايي ډګر، چې د شمالي افغانستان لپاره د يوه ستر ارتباطي دهليز حيثيت لري، په وروستيو کلونو کې د بېلابېلو پرمختيايي پروژو شاهد پاتې شوی دی. د ځمکنيو خدمتونو تړون، د معياري انتظارځای پروژه، د څلورلارې جوړول، د بادي کڅوړو نصبول او د جومات بيا رغونه هغه ګامونه دي چې د مسافرو د خدمتونو په ښه‌والي، د ډګر د ښکلا په زياتوالي او د نړيوالو معيارونو په پلي کېدو کې مهم رول لوبوي. دا بدلونونه د سيمې د اقتصادي ودې لپاره فرصتونه برابروي او د مسافرو لپاره د ډاډ، اسانتيا او خونديتوب زياتوي.



# د هواپېژندنې عصري دستګاوو نصبول

هوايي چلند د هر هېواد د پرمختګ يو مهم رکن دی او د دې برخې د خوندي او معياري خدمتونو لپاره هواپېژندنه (مېټريولوژي) بنسټيز ارزښت لري. په همدې موخه د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د هواپېژندنې رياست د عصري دستګاوو د نصبولو لړۍ پيل کړې، تر څو د هېواد هوايي ډګرونه او مهمې سيمې د دقيقو معلوماتو پر بنسټ لا خوندي مديريت شي.

## د نوو دستګاوو نصبول

په دې پروګرام کې د ۳۰ نوو عصري دستګاوو د نصبولو پلان شامل دی، چې د حرارت، رطوبت، د هوا فشار، د باد سرعت او د باد د لورې په اړه دقيق معلومات وړاندې کوي. دغه وسايل د الوتنو د پلان جوړونې، د احتمالي خطرونو د کمولو او د مسافرو د خونديتوب د تضمين لپاره خورا اړين دي.
تر اوسه دا دستګاوې په باميان، ښرنې، خوست او سالنګ (جبل‌السراج، شمالي او سوېلي سالنګ) کې نصب او فعالې شوې دي. له دې وړاندې په کابل، کندهار، هرات او بلخ نړيوالو هوايي ډګرونو کې هم ورته دستګاوې فعالې وې. د دې پروژې پلي کول د افغانستان د هوايي چلند د پياوړتيا په برخه کې يو مهم ګام بلل کېږي.

## د سالنګونو ځانګړې اهميت

سالنګونه د افغانستان د ټرانزيټ او تګ راتګ يو حياتي مسير دی، چې هره ورځ زرګونه مسافر او باروړونکي لارې له دې لارې تېرېږي. د دې سيمې د سختو اقليمي بدلونونو او ناڅاپي توپانونو له امله، د هواپېژندنې دقيقو معلوماتو شتون حياتي ارزښت لري.

په همدې لړ کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په جبل‌السراج، سوېلي او شمالي سالنګ سټېشنونو کې درې نوې اتومات دستګاوې نصب کړې دي. دغه وسايل د ورښتونو کچه، د حرارت درجه، رطوبت، د باد سرعت، لورى او د هوا فشار په اړه دقيقه اندازه وړاندې کوي. دا معلومات د الوتنو د خونديتوب لپاره مهم دي او د عامه پوهاوي او د خلکو د ورځني ژوند د اسانولو لپاره هم اغېزمن بلل کېږي.

# دست‌آوردهای تازه
# در عرضه خدمات ترانسپورت زمینی







وزارت ترانسپورت و هوانوردی گام‌های مؤثر و عملی را جهت بهبود خدمات ترانسپورتی، ارتقای ظرفیت‌های مسلکی و تقویت همکاری‌های منطقه‌ای برداشته است.

یکی از این دست‌آوردهای مهم ، نظارت منظم بر سرعت وسایط ترانسپورتی از طریق سیستم کنترول‌روم و جی‌پی اِس است. ریاست خدمات تخنیکی و مصؤنیت با جدیت، سرعت وسایط ترانسپورتی را کنترول می‌کند که تا کنون حدود هشت هزار واسطه باربری و نزدیک به سه هزار واسطه مسافربری با دستگاه جی‌پی‌اِس مجهز گردیده‌اند. با این روند نصب این دستگاه به‌شمول کابل در تمام ولایات جریان دراد که نقش مهمی در کاهش حوادث ترافیکی ایفا می‌کند.

در همین حال، وزارت ترانسپورت و هوانوردی با همکاری واحدهای دومی ترانسپورت جاده‌ای در ولایات، در زمینه تسهیل انتقالات اموال تاجران و حمایت از سکتور خصوصی نیز فعالیت‌های موثر انجام داده است. در ولایت پکتیا، با حضور مسئولان محلی و نمایندگان شرکت‌های ترانسپورتی، فعالیت یک شرکت خصوصی باربری در ولسوالی دندپتان افتتاح شد. این اقدام گام مثبت در راستای فراهم شدن انتقالات مصؤن اموال تاجران و حمایت از سرمایه‌گذاران ملی کشور محسوب می‌شود.

از سوی دیگر، در ولایت ننگرهار نیز پیشرفت‌های مهمی در زمینه سیستم‌سازی‌های الکترونیکی صورت گرفته است. در ترمینل باربری تورخم، روند ثبت وسایط در سیستم الکترونیکی روندنوبت به‌صورت منظم ادامه دارد و تا کنون بیش از شش هزار و ۳۸ واسطه باربری در این سیستم ثبت شده‌اند. در سطح کشور نیز بیش از ۴۶ هزار واسطه باربری در این سیستم ثبت شده‌اند که این اقدام، گامی مؤثر در تنظیم، شفافیت و بهبود فعالیت‌های ترانسپورتی محسوب می‌شود.

در ولایت نیمروز نیز ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای طی شش ماه گذشته، نزدیک به یک هزار و ۸۰۰ واسطه باربری بررسی تخنیکی کرده است. با این حال پس از بررسی تخنیکی، برای بیش از یک هزار و ۶۰۰ واسطه اسناد ترانسپورتی توزیع شده است که این روند به‌هدف معیاری‌سازی وسایط و تامین مصؤنیت در انتقالات اموال تاجران همچنان ادامه دارد.

در کنار این فعالیت‌ها، وزارت ترانسپورت و هوانوردی به هدف ارتقای ظرفیت کارمندان و بهبود عملکردهای اداری، برنامه‌های آموزشی را در ۳۴ ولایت کشور راه‌اندازی کرده است. این برنامه شامل برگزاری سمینارهای تخصصی در بخش کمپیوتر است که به مدت دو ماه ادامه داشت و اشتراک‌کنندگان در بخش‌های نرم افزار و سخت افزار کمپیوتر آموزش فراگرفتند تا هنگام اجرای وظایف از آن مستفید شوند و فعالیت‌های شان بهبود یابد.

از سوی هم براساس پیشنهاد وزارت ترانسپورت و هوانوردی و حکم مقام عالی ریاست‌الوزراء، مولوی حیات‌الله فرقانی به‌عنوان اتشه ترانسپورتی افغانستان در شهر کویته تعیین شده است. انتظار می‌رود حضور وی در این سمت، زمینه‌ساز گسترش روابط ترانسپورتی و هماهنگی بهتر در عرصه حمل‌ونقل منطقه‌ای گردد.
این مجموعه اقدامات، نشان‌دهنده تعهد وزارت ترانسپورت و هوانوردی در بخش عصری‌سازی سیستم‌های ترانسپورتی، نظم و پویایی نظام ترانسپورتی کشور است؛ نظامی که نقش آن در رونق تجارت، سهولت‌های رفت وآمد و اتصال افغانستان با کشورهای منطقه روزبه‌روز برجسته‌تر می‌شود.




# د ټرانسپورټي زيربناوو
# د پراختيا او معياري کولو مهم ګامونه

ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په بېلابېلو ولايتونو کې د ټرانسپورټي خدمتونو د پراختيا، خونديتوب او معياري کولو په موخه يو لړ مهمې پروژې پيل کړي او بشپړې کړې دي. دا پروژې د مسافرو لپاره اسانتياوې برابروي او د هيواد د اقتصادي او ټولنيز پرمختګ لپاره يو مهم رول لوبوي.

## د کابل کمپني هډه: د لوېديځ مسير مسافرو لپاره نوی مرکز

د کابل ښار په کمپني سيمه کې د ټرانسپورټي هډې د جوړېدو چارې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت له‌خوا پيل شوې. دا پروژه، چې په ۲۱ جريبه ځمکه باندې د ۲۸ ميليونه او ۷۴۳ زره افغانيو په لګښت پلي کيږي، په څلورو مياشتو کې به بشپړه شي. دغه هډه به انتظار خونه، د اوبو رسولو سيستم، د موټرو لپاره منظم سيورى او نورې اړينې اسانتياوې ولري، چې د مسافرو لپاره به معياري خدمتونه وړاندې کړي. دغه پروژه د کابل او لوېديځ مسير ترمنځ د تګ‌راتګ د اسانتيا او نظم په راوستلو کې مهم رول لوبوي.

### د پکتیا اداري ودانۍ خوندیتوب؛ د نوي دېوال جوړول

د پکتیا ولایت واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست د خپلې اداري ودانۍ د خوندیتوب لپاره د ۸۲ متره اوږد دېوال جوړولو چارې پیل کړې. دا دېوال په اساسي او معیاري ډول جوړېږي، چې په بشپړېدو سره به د اداري ودانۍ امنیتي خوندیتوب تضمین او دا ګام د محلي اداري د زیربناوو د پیاوړتیا او د کاري چاپېریال د خوندیتوب لپاره مهم بلل کېږي.

### د کندوز باروړونکی ترمینل؛ د ۳۹ میلیونو افغانیو پروژه بشپړه شوه

په کندوز ولایت علي اباد ولسوالۍ کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت له خوا د ۳۹ میلیونو افغانیو په لګښت یوه ستره پروژه بشپړه شوه. دا پروژه، چې د ۱۱ سوه جریبه ځمکې پر سر د باروړونکي ترمینل او تیرپارک چاپېرېدونکي دېوال جوړولو چارې پکې شاملې دي، ۶۲۰۰ متره اوږدوالی او له ۳ مترو څخه زیات لوړوالی لري. دا دېوال په اساسي ډول جوړ شوی او د نورو اړوندو تاسیساتو د جوړولو چارې به هم ژر پیل شي. دا پروژه د سوداګریزو فعالیتونو او بار وړونکو موټرو د نظم او خوندیتوب لپاره یو مهم پرمختګ دی.

### د پکتیا ټرانسپورټي شرکتونه؛ د نوو هڅو پرانیستل

د پکتیا ولایت واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست په ګردېز-غزني، ګردېز-ځمکني، اریوب ځاځي او احمد خېلو ولسوالیو مسیرونو لپاره د دوو مسافروړونکو ټرانسپورټي شرکتونو د فعالیتونو د پرانیستې غونډه ترسره کړه. دا اقدام د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د هغو هڅو برخه ده چې په ټول هیواد کې د اسانه، ارزانه او خوندي ټرانسپورټي خدمتونو د وړاندې کولو په موخه ترسره کېږي. دغه نوي هڅې به د مسافرو لپاره د تګ‌راتګ اسانتیاوې نورې هم زیاتې کړي.

### باختر وطن ترمینل؛ د بلخ معیاري ټرانسپورټي مرکز

په بلخ ولایت کې د باختر وطن په نوم یو عصري مسافروړونکی ترمینل، چې په ۳۵ جریبه ځمکه جوړ شوی، د هیواد په شمال کې د معیاري ټرانسپورټي خدمتونو یوه غوره بېلګه ده. دا ترمینل له ۳ زره زیاتو مسافروړونکو موټرو سره فعالیت کوي او په ورځني ډول شاوخوا ۵۰۰ موټر له بلخ څخه کابل، بدخشان، کندوز او نورو ولایتونو ته زرګونه مسافر لېږدوي. د باختر وطن ترمینل د خوندي او منظم تګ‌راتګ لپاره یو هیله‌بښونکی مرکز دی.

### د بغلان منظم ټرانسپورټي خدمتونه او د ۱۵ مسیرونو پراختیا

په بغلان ولایت کې د واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست له‌خوا د ۳ لویو او یو شمېر کوچنیو ټرانسپورټي هڅو او درېیو کنټرولي بندرونو له لارې په ۲۴ ساعته ډول منظم ټرانسپورټي خدمتونه وړاندې کېږي. په دغه ولایت کې شاوخوا ۲ زره مسافروړونکي موټر په ۱۵ مسیرونو فعالیت لري. د ښاري نظم د ښه والي او ګڼې‌ګوڼې د مخنیوي لپاره، د موټرو لپاره د ښار په څنډو کې منظم تم‌ځایونه ټاکل شوي، چې د خلکو لپاره یې د ټرانسپورټي خدمتونو لاسرسی اسانه کړی او د اسانه، ارزانه او خوندي سفر زمینه یې برابره کړې ده.

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت دا وروستي اقدامات د افغانستان د ټرانسپورټي زیربناوو د پیاوړتیا او د مسافرو د اسانتیاوو او خوندیتوب د ډاډمن کولو په موخه مهم ګامونه دي. دا پروژې نه یوازې د هیوادوالو لپاره د تګ‌راتګ اسانتیاوې زیاتوي، بلکې د اقتصادي پرمختګ او ټولنیز نظم په راوستلو کې هم مرسته کوي. د دې پروژو بشپړېدل او دوام به د هیواد د ټرانسپورټي سکتور د لا پراختیا او معیاري کېدو لامل وګرځي.




# د ښرنې او کندوز

## هوايي ډګرونو کې نوي پرمختګونه

د هېواد د هوايي ډګرونو د معياري کېدو او خدمتونو د ښه‌والي لړۍ ورځ تر بلې پراخېږي. د پکتيکا ولايت په ښرنې هوايي ډګر کې د هواپېژندنې سټېشن تازه نصب او فعال شو، چې له دې وروسته به د هوا حالاتو دقيقه وړاندوينه او د الوتنو لپاره اړين معلومات چمتو کوي. دا سټېشن به د الوتنو خونديتوب تضمينوي او د سيمه ييزو هوايي ډګرونو د پرمختګ لپاره هم يو مهم ګام بلل کېږي.
په همدې لړ کې د کندز هوايي ډګر د برېښنا رسونې په برخه کې هم يو مهم پرمختګ رامنځته شوی دی. د ۲.۴۲(دوه اعشاريه دوه‌څلوېښت)ميليونه افغانيو په لګښت ۴۰۰ کيلوواټه ټرانسفارمر نصب شو، چې د دې هوايي ډګر د ترمينل او تخنيکي برخو برېښنايي ظرفيت زياتوي او د خدمتونو موثريت پياوړی کوي.
ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت هڅه کوي چې د هېواد نړيوالو هوايي ډګرونو تر څنګ سيمه‌ييزو هوايي ډګرونو ته هم پاملرنه زياته کړي، په عصري او تخنيکي تجهيزاتو يې سمبال کړي، تر څو مسافرو او د هوايي چلند کارکوونکو لپاره لا ډېرې اسانتياوې رامنځته شي.




# د کابل څرخي پله سیمه کې د برېښنايي دروازې (ټول‌ګېټ) پروژه

## دټرانسپورټي نظام عصري کولو لوی ګام

د کابل ختیځ د څرخي پله په سیمه کې د ۱٦٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د برېښنايي دروازې (ټول‌ګېټ) جوړولو چارې د یو لړ مراسمو په ترڅ کې پیل شوې. دا پروژه چې د عامه او خصوصي مشارکت له لارې پلي کېږي، د افغانستان د ټرانسپورټي نظام د عصري کولو او معیاري کولو په لور یو مهم پرمختګ دی. په دې مراسمو کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت عملیاتي معین الحاج مولوي فتح‌الله منصور او نورو لوړپوړو امارتي چارواکو ګډون درلود.

### د پروژې موخه او اهمیت

دا برېښنايي دروازه د ټرانسپورټي چارو په شفافیت، د وسایطو تګ‌راتګ په اسانتیا او د معیاري خدماتو په وړاندې کولو کې مهم رول لري. د کمپیوټري پروګرامونو او حسګرونو (سنسورونو) په مرسته، دا سیستم به د اسنادو نه لرونکي وسایط او غیرقانوني توکو لېږد په اسانۍ سره وپېژني. دا پروژه به د عایداتو په شفافیت او د ټرانسپورټي نظام په رغنده پرمختګ کې مرسته وکړي.

### د پروژې مشخصات

دا پروژه په ۱۵ جریبه ځمکه کې پلي کېږي او په دې کې به، شپږ د وتلو او څلور د راننوتلو خطونه او لارې موجودې وي. یوه پنځه پوړیزه اداري ودانۍ به ولري، چې د انټرنېټ او نورو معیاري اسانتیاوو سره به سمبال وي او د دې تر څنګ جومات، ورکشاپونه او نورې اړینې اسانتیاوې به هم پکې شاملې وي. دغه پروژه به د ۱۲ میاشتو په موده کې بشپړه او د کاروني لپاره چمتو شي. د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په ټول هېواد کې ٦٨ ځایونه ټاکلي دي او تثبیت کړې دي، چې په ځینو ځایونو کې به یې همدا ډول برېښنايي دروازې جوړې شي. دا پروژه د څرخي پُل ټول‌ګېټ د هېواد په کچه د لومړي ځل لپاره د عصري ټرانسپورټي سیسټم د رامنځته کولو یوه بېلګه ده.

د څرخي پُل برېښنايي دروازې پروژه نه یوازې د ټرانسپورټي چارو په معیاري کولو او شفافیت کې مرسته کوي، بلکې د موټرچلوونکو او ټرانسپورټي خدمتونو د کاروونکو لپاره هم اسانتیاوې برابروي. دا پروژه د افغانستان د پرمختګ او اقتصادي ودې لپاره یو مثبت ګام دی، چې د عامه او خصوصي سکټورونو د همکارۍ یوه بریالۍ بېلګه ده.




# د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت

## د یو کلنو لاسته‌راوړنو راپو

د ۱۴۰۴ لمریز کال د زمري/اسد میاشتې په ۴مه نېټه د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز کې خپل کلني راپور وړاندې کړ. په دې غونډه کې، چې د امارتي ادارو د یو کلنو لاسته‌راوړنو د تشریح پروګرام په لړ کې جوړه شوې وه، د وزارت مسئولینو د تېر یو کال پرمختګونه او د راتلونکې لپاره پلانونه د رسنیو له لارې له خلکو سره شریک کړل.

### د واټ ټرانسپورټ لاسته‌راوړنې

د واټ ټرانسپورټ معین الحاج ملا عبدالسلام حیدري په خپلو خبرو کې وویل، چې افغانستان اوس‌مهال له ترکمنستان، ازبکستان، تاجکستان، قرغزستان، ایران، ترکیه او پاکستان او نورو هېوادونو سره ټرانسپورټي موافقتنامې لري. نوموړي زیاته کړه: «په ۱۴۰۳ل کال کې د سرحدي بندرونو له لارې (۴۰،۴۴۲) وسایط هېواد ته داخل شوي او (۴۹،۲۴۵) وسایط له هېواد څخه وتلي دي. همدارنګه، د هېواد په کچه (۳۳،۳۴۵،۲۶۱) مسافر د مسافروړونکو وسایطو له لارې لېږدول شوي دي.» دغه شمېرې د واټ ټرانسپورټ په برخه کې د پام وړ پرمختګ ښيي.

### پراختیايي پروژې او کارموندنه

مالي او اداري معین حافظ صدیق‌الله عابد وویل، چې په ۱۴۰۳ ل کال کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت (۵۵) پراختیايي پروژې درلودې، چې (۳۴) یې د بشپړېدو په حال کې دي. د دې پروژو له لارې له ۳ تر ۴ زرو کسانو لپاره مستقیم او غیر مستقیم د کار زمینه برابره شوې ده. نوموړي زیاته کړه: «په ۱۴۰۴ ل کال کې شاوخوا (۴۰) پروژې پلان شوي، چې اوس د تدارکاتو، ډیزاین او پلي کولو په پړاوونو کې دي.» دا پروژې د هېواد د ټرانسپورټي زېربناوو د لا پراختیا لپاره مهم ګامونه دي.

### د هوايي چلند پرمختګونه

د هوايي چلند عملیاتي معین مولوي فتح‌الله منصور د هوايي چلند په برخه کې د پام وړ لاسته‌راوړنو یادونه وکړه. نوموړي وویل: «په تېر یو کال کې د افغانستان له ټولو هوايي ډګرونو څخه د (۱۴،۰۰۰) څخه زیاتې الوتنې ترسره شوي، چې یوازې د کابل نړیوال هوايي ډګر څخه (۷۶۶۵) الوتنې شوي، په دې کې (۳۴۰۰) کورنۍ او (۴۲۶۵) بهرنۍ الوتنې دي.» هغه دا هم روښانه کړه، چې اوس‌مهال د روسیې، ترکیې، هندوستان، قطر، ایران، متحده عربي اماراتو، چین، ازبکستان، پاکستان، کویټ او سعودي عربستان په ګډون یو شمېر هېوادونو ته الوتنې ترسره کېږي او زیاته یې کړه، چې د افغانستان هوايي ډګرونه د نړیوالو معیارونو سره سم خدمات وړاندې کوي.

### د رسنیو پوښتنې او ځوابونه

په غونډه کې د رسنیو استازو بېلابېلې پوښتنې مطرح کړې، چې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت ویاند حکمت الله اصفي یې ټولو پوښتنو ته ځوابونه وویل.



# انتقال زمین‌های امارتی؛

## گامی بنیادین برای تحول در بخش ترانسپورت کشور

وزارت ترانسپورت و هوانوردی در یک اقدام تازه که چشم انداز خدمات ترانسپورتی را تحول بخشیده است. چنانکه با رشد جمعیت و نیاز روزافزون به یک سیسم پاسخگو و معیاری حمل‌ونقل و با کمبود زمین جهت ساخت‌وساز ترمینل‌های ترانسپورتی، تیرپارک‌ها و دروازه‌های الکترونیکی مواجه بود و در گذشته، اقدامات اساسی و زیربنایی چندانی در این راستا صورت نگرفته بود، رهبری این وزارت با درک عمیق از نیازهای آینده، با ابتکار تازه و دیدگاه توسعه‌محور برنامه‌ای گسترده را روی دست گرفت.

وزارت ترانسپورت و هوانوردی به تاسی از حکم امیرالمؤمنین حفظ‌الله و با همکاری شماری از وزارت‌خانه‌ها، ادارات محلی و سایر نهادهای ذیربط، نشست‌های پی‌درپی را برای بررسی، سروی و تثبیت موقعیت زمین‌های امارتی برگزار کردند.

در نتیجه این تلاش‌ها، زمین‌های مورد نیاز شناسایی شده و رسماً به مالکیت وزارت ترانسپورت و هوانوردی واگذار گردید. بر اساس آمار ارائه‌شده، تاکنون حدود ۲۱ هزار جریب زمین از سوی ادارات مختلف در مرکز و ولایات کشور به این وزارت واگذار شده است.

این زمین‌ها در ولایات کابل، ننگرهار، کندهار، هرات، بلخ، کاپیسا، میدان وردک، لوگر، فراه، نیمروز، ارزگان، غور، غزنی، کندز، زابل، جوزجان، پکتیا، فاریاب، هلمند، سمنگان و دایکندی موقعیت دارند.

پس از واگذاری این زمین‌ها، وزارت ترانسپورت و هوانوردی کار تطبیق طرح‌های عمرانی و تأسیساتی را بر این زمین ها در پایتخت و شماری از ولایات آغاز کرد.

اکنون، ده‌ها پروژه زیربنایی در این زمین‌ها در حال تطبیق است؛ پروژه‌هایی که چهره بخش ترانسپورت زمینی کشور را دگرگون ساخته و خدمات حمل‌ونقل را به سطح معیاری و عصری ارتقا می‌دهند.

بدون شک این اقدام را می‌توان گامی اساسی و سرنوشت‌ساز در مسیر ایجاد سهولت‌های نوین ترانسپورتی و رشد اقتصادی افغانستان دانست؛ گامی که کشور را به سوی خودکفایی، نظم و پیشرفت واقعی سوق می‌دهد.



## د درېیو میاشتو په موده کې

# د ځینو ترسره شویو غونډو، لیدنو او کړنو لنډ خبرونه

**د چنګاښ/سرطان میاشت:**

- په نیمروز ولایت کې د باروړونکو شرکتونو له استازو سره پر مهمو موضوعاتو خبرې وشوې.
- کارت صحی برای رانندگان وسایط ترانسپورتی در تخار الزامی شد
- درباره فراهم شدن سهولت‌ها برای شرکت‌های ترانسپورتی نشست برگزار شد
- د کندوز ولایت واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست نوې اداري ودانۍ جوړولو پروژې کارونه ۵۰ سلنه بشپړ شوي دي.
- کار اعمار تعمیر اداری ترانسپورت جاده‌ای کاپیسا جریان دارد
- بسیاری از وسایط مسافربری و باربری در کندز با معیار برابر شده اند
- د هلمند ولایت واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست له لورې د اداري مراسلاتو، د ټرانسپورټي شرکتونو ثبت، تخنیکي چک پروسې او د ټرانسپورټي چارو د تنظیم په تړاو یو ورځنی سمینار وړاندې شو.
- نظم و شفافیت در ترمینل‌ها و هده‌های کابل تأمین شده است.
- په ننګرهار کې د واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست د چارو د لا ښه تنظیم او معیاري خدماتو لپاره د هډو او ترمینلونو له کارکوونکو سره ناسته وشوه.
- فعالیت‌های ترانسپورتی در ولایت تخار به‌طور منظم جریان دارد
- د ننګرهار په غني خېلو کې د کابل-جلال‌اباد موټرو لپاره د ترمینل د جوړولو پر سر ناسته وشوه.
- د غزني ولایت اوسېدونکي د ۸ هډو او ٦ بندرونو له لارې منظم ټرانسپورټي خدمتونه ترلاسه کوي او هډې د ښار څنډو ته لېږدول شوې دي.
- ترانسپورت کشور، روز به روز منظم‌تر و پیشرفته‌تر می شود

- د هرات ـ تورغوندۍ مسیر موټر په نوي رنګ او ټرانسپورټي اصولو برابر شوي دي.
- د معلوماتي ټکنالوژۍ اړوند خالي بستونو لپاره له څه باندي ۲۵۰ کسانو ډله‌ییزه ازموینه واخیستل شوه.
- از چگونگ تطبیق لایحه کرایه در ولایت نیمروز نظارت صورت گرفت
- د قره‌باغ کنټرولي بندر له ټرانسپورټي چارو څخه څارنه وشوه.
- د نیمروز واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست له خوا د شرکتونو او موټرچلوونکو استازو ته د ټرانسپورټي اصولو په اړه پوهاوی ورکړل شو.
- په هلمند ولایت کې د واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست د چارو د لاتنظیم او معیاري خدماتو لپاره د هډو او ترمینلونو
- کارکوونکو سره ناسته وشوه.

### د زمري/اسد میاشت:

- د هلمند–کندهار لویې لارې ټرانسپورټي موټرو د فعالیت څخه څارنه وشوه.
- د هرات-کابل لویې لارې مسافروړونکو موټرو د فعالیت څخه څارنه وشوه.
- د ختیځ ولایتونو لپاره د معیاري ترمینل جوړولو چارې ۳۰ سلنه پرمخ تللې دي.
- فعالیت هده‌های مسافربری در ولایت غزنی مورد نظارت قرار گرفت.
- از جریان فعالیت‌های ترانسپورتی در ولایت بلخ بازدید به‌عمل آمد.
- از روند تطبیق پروژه اعمار تیرپارک بندر آقینه در ولایت فاریاب نظارت به عمل آمد.
- د واټ ټرانسپورټ معین په یوه ناسته کې له ترانسپورتي شرکتونو سره د TAD او CMR اسنادو د اسانتیاوو او اصلاحاتو په اړه بحث او لازمې لارښوونې وکړې.
- در ترمینل باربری شیرخان بندر ولایت کندز، وسایط باربری تاجیکستانی نیز به‌طور منظم جهت بارگیری معرفی می شوند.
- کارهای اعمار یک ترمینل ترانسپورتی در ولایت بدخشان جریان دارد.
- د جي پي اېس شرکتونو له استازو سره د همغږۍ ناسته وشوه
- روند توزیع اسناد ترانسپورتی در کابل تسریع یافته است.
- پکتیا ولایت کې د ښاري نظم رامنځته کولو په تړاو ناسته وشوه.
- بررسی تخنیکی وسایط مسافربری در ولایت نیمروز ادامه دارد.
- روند توزیع کارت صحی برای رانندگان وسایط ترانسپورتی در ولایت نیمروز جریان دارد.
- فاریاب ولایت کې د ټرانسپورټي شرکتونو څخه څارنه وشوه
- د هوايي ډګرونو اطفایي مدیرانو ته یو میاشتنی روزنیز سمینار پیل شو.
- د خوست ولایت واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست له لورې د ښاري نظم او ټاکل‌شوې کرایې لایحې پلي کېدو په
- موخه د یاد ولایت له کنټرولي بندرونو او ترمینلونو څخه وخت‌ناوخت څارنه کېږي.
- بررسی تخنیکی وسایط مسافربری در ولایت فاریاب انجام شد
- .د نیمروز ولایت واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست له خوا د مسافروړونکو ټرانسپورټي شرکتونو او موټر چلوونکو
- استازو ته دیوې ناستې پرمهال د ټرانسپورټي اصولو پلي کولو په اړه معلومات او پوهاوی ورکړل شو.
- د نیمروز -کابل لویې لارې مسافروړونکو موټرو د فعالیت څخه څارنه وشوه.
- د نفت او ګازو خوندي لېږد په اړه موټرچلوونکو ته سپارښتنې وشوې.
- بیش از ۲۰۰ عراده واسطه ترانسپورتی در کابل به‌منظور رفع مشکلات تخنیکی متوقف گردید.
- د هلمند واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست د باروړونکو شرکتونو له استازو سره د ټرانسپورټي چارو د ښه والي لپاره ناسته ترسره کړه.
- روند پرداخت الکترونیکی هزینه‌های خدمات ترانسپورتی در ترمینل مسافربری ساحه کمپنی شهر کابل آغاز شد.

- فعالیت هده‌های مسافربری در ولایت ننگرهار مورد نظارت قرار گرفت.
- نزدیک به یک‌هزار واسطه ترانسپورتی در کابل مورد بررسی تخنیکی قرار گرفتند.
- د نیمروز ولایت واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست د ختیځ کنټرولي بندر کې د نیمروز – کابل لارې مسافروړونکو موټرو د فعالیت څارنه وکړه او د ټاکل شوې کرایې لایحې پلي‌کولو څخه یې څارنه وکړه.

## د وړې/سنبلې میاشت:

- ارتقای ظرفیت کارمندان واحدهای دومی بخش ترانسپورت جاده‌ای و میادین هوایی در اولویت قرار گرفته است.
- ننگرهار کې څه باندې ۳۰۰ لایزري او غیر معیاري ځراغونه راټول او وسوځول شول.
- د ننګرهار واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست له خوا د شرکتونو او موټرچلوونکو استازو ته د ټرانسپورټي اصولو په اړه پوهاوی ورکړل شو.
- د ننگرهار واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست د خدمتونو د ښه والي لپاره په تورخم او مارکو بازار کې د ترمینلونو او هډو څارنه وکړه.
- شماری از کارمندان میدان هوایی بین‌المللی مولانا جلال‌الدین محمد بلخی آموزش‌های مسلکی را فرا گرفتند.
- با نماینده‌گان شرکت‌های ترانسپورتی در ولایت بلخ دیدار صورت گرفت.
- از انتقال اضافه‌بار توسط تکسی‌ها در ولایت سمنگان جلوگیری به‌عمل آمد.
- د بغلان د ټرانسپورټي تاسیساتو د جوړولو پروژه، چې د نږدې ۴۸ میلیونه افغانۍ لګښت پرې راځي، چارې یې ۵۰سلنه بشپړې شوې دي.
- په سمنگان کې موټرچلوونکو ته د سرعت کنټرول، کرایې لایحې پلي کولو او خوندي سفر په اړه پوهاوی ورکړل شو.
- میدان هوایی تالقان که در مرکز تخار موقعیت دارد، فعالیت‌های آن به‌طور منظم به‌پیش می‌رود.
- د سمنگان ولایت اوسېدونکو ته د ۴ هډو او ۳ بندرونو له لارې په ۹ مسیرونو ۲۴ ساعته منظم ټرانسپورټي خدمتونه وړاندې کېږي.
- د کابل ولایت د څرخي پله په سیمه کې د معیاري مسافروړونکي ترمینل د جوړېدو چارې له پلان سره سمې پر مخ روانې دي.
- په سمنگان ولایت کې د نږدې ۲۹ میلیونه افغانیو په لګښت د عصري ترمینل جوړولو پروژې چارې په بشپړېدو دي.
- با نماینده‌گان شرکت‌های ترانسپورتی در ولایت ننگرهار دیدار انجام شد.
- برای راننده‌گان مسیر موسی‌قلعه ولایت هلمند برنامه آگاهی‌دهی عامه برگزار گردید.
- روند نظارت دوامدار از تطبیق لایحه کرایه در ولایت کندز ادامه دارد.
- د بلخ اوسېدونکو ته د ۴ هډو او ۳ بندرونو له لارې د نږدې ۱۴ زرو موټرو په وسیله پر ۵۰ مسیرونو ۲۴ ساعته ډول منظم خدمتونه وړاندې کېږي.
- په کندوز ولایت کې د نږدې ۱۲ میلیونه افغانیو په لګښت د درې پوړیزې اداري ودانۍ پروژې چارې ۷۵ سلنه بشپړې شوې دي.
- فعالیت‌های میدان هوایی تالقان به‌طور منظم به‌پیش می‌رود.
- روند نظارت و بررسی فعالیت‌های شرکت‌های ترانسپورتی در کابل آغاز شده است.
- ترانسپورت عامه شهری در ساحه احمدشاه بابا مینه شهر کابل، با شیوه جدید فعالیت می‌کند.



# د واټ ټرانسپورټ په برخه کې
# برېښنايي سیسټم پیل او د فزيکي پيسو پای

ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت پرېکړه کړې، چې د فزيکي پيسو او لاس په لاس ورکړې مخه ونيسي. له دې وروسته به په ټولو رسمي ښاري او مسافروړونکو موټرو کې د پارچو وېش او د فزيکي پيسو اخيستل بند وي. دا پرېکړه د ښاريانو د هوساينې، د ترافيکي ګڼې ګوڼې د مخنيوي او د ټرانسپورټي خدمتونو د ښه تنظيم لپاره شوې ده.

## له وړانديز څخه تر عملي پلي کېدو پورې

ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د دې نوښت وړانديز رياست‌الوزرا محترم مقام ته وړاندې کړ، څو د فزيکي پيسو پر ځای د برېښنايي اداينې سيسټم فعال شي. له نېکه مرغه دا وړانديز تصويب او له هغه وروسته ټولو ټکسي موټرو، بسونو او باري لارېو ته لاربښوونه وشوه، چې خپل مياشتنی عايد له تعرفې اخيستو وروسته د بانک له لارې تحويل کړي.

## شفافيت، سرعت او اسانتياوې

د دې سيسټم په پلي کېدو سره د عوايدو راټولونه چټکه شوې او په چارو کې ورسره بشپړ شفافيت رامنځته شوی دی. د ټرانسپورټ کارکوونکي د اوس لپاره ډېر تمرکز د موټرو په تنظيم کوي، چې د نظم او همغږۍ نوې فضا يې رامنځته کړې ده. دغه سيسټم د موټرچلوونکو لپاره ګټور تمام شوی، ځکه نه ورسره وخت ضايع کېږي او نه هم په چارو کې ځنډ رامنځته کېږي.

## ازمايښتي پلي کېدل او ټول هېواد ته پراخېدل

دا نوښت په ټولو ولايتونو کې په پړاو پړاو پلی کېږي. تر اوسه د هغو ولايتونو په کچه، چې د (۵۸۰ ډوله)مسافروړونکو موټر او بار لېږدولو لارۍ پکې فعاليت لري، دا سيسټم په ازمايښتي ډول روان دی. ټولو وسايطو ته ټوکن ورکول کېږي او د احصايي سيسټم له لارې هر موټر د وتلو پر مهال ثبتېږي.

په پلازمېنه کابل کې د "پايتخت ترمينل" او "کمپنۍ ترمينل" په نوم دوو مرکزونو کې دا پروسه په عملي ډول پيل شوې ده، چې له فزيکي څخه برېښنايي عوايدو ته د تګ عملي بېلګه ګڼل کېږي. په کابل او نورو هډو او ترمينلونو کې موټرچلوونکو ته کارتونه جوړ شوي دي، چې دا پروسه به په عملي ډول ټول هېواد ته پسې وغځېږي او ورسره به فزيکي پيسې هم پای ومومي. د دې تر څنګ په رونډ نوبت کې کابو ټولو موټرچلوونکو ته کارتونه ورکړي دي، چې په وېش سره به يې د کابل په ټولو ترمينلونو او هډو کې په عملي ډول د برېښنايي سيسټم چارې پيل شي.

موټرچلوونکي له دې بدلونه خوښ دي. دوی وايي چې د پيسو تحويلول اوس ډېر منظم شوي، وخت نه ضايع کېږي او هر څه په شفاف ډول ترسره کېږي.

په دې نوښت سره ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت غواړي د هېواد د ټرانسپورټي خدمتونو بنسټونه معياري، شفاف او يو پرمختللی سيسټم رامنځته کړي.

# سازمان بین‌المللی هوانوردی ملکی ایکاو

## بررسی جامع بر اساس کنوانسیون شیکاگو و ساختار اجرائیوی ایکاو

این مقاله به بررسی سازمان بینالمللی هوانوردی ملکی (ICAO) به عنوان یک نهاد تخصصی سازمان ملل متحد می‌پردازد. با مرور تاریخچه، اهداف و ساختار اجرائیوی این سازمان، و نقش کلیدی آن در توسعه مصؤونیت و پایداری صنعت هوانوردی ملکی مورد تحلیل قرار گرفته است. همچنین کمیته‌ها و ارکان زیرمجموعه شورای ایکاو و وظایف هر یک تشریح شده‌اند. در عین حال عضویت افغانستان به این سازمان و همچنان اهمیت و همکاری‌های افغانستان با این سازمان نیز مورد بررسی قرار گرفته است. این پژوهش بر اساس منابع رسمی از جمله کنوانسیون شیکاگو (۱۹۴۴) و اسناد منتشر شده توسط ICAO تنظیم گردیده است. بعد از بررسی ها دیده می‌شود که سازمان بین‌المللی هوانوردی ملکی (ICAO) یکی از نهادهای تخصصی سازمان ملل متحد است که بر اساس کنوانسیون شیکاگو در سال ۱۹۴۴ میلادی تأسیس و از سال ۱۹۴۷ فعالیت خود را آغاز کرد و افغانستان نیز به تاریخ ۱۵ حمل ۱۳۲۶ خورشیدی کنوانسیون شیکاگو را تصویب کرده و به عضویت سازمان بین المللی هوانوردی ملکی درآمده است.

کلیدواژه‌ها: ایکاو، کنوانسیون شیکاگو، هوانوردی ملکی، معیارهای هوانوردی.

### مقدمه

سازمان بین‌المللی هوانوردی ملکی (ICAO) به‌عنوان یکی از نهادهای تخصصی وابسته به سازمان ملل متحد، نقش کلیدی در تنظیم، توسعه و نظارت بر معیارات و مقررات بین‌المللی هوانوردی ایفا می‌کند. این سازمان که در پی امضای کنوانسیون شیکاگو در سال ۱۹۴۴ تأسیس شد، مأموریت دارد تا حمل‌ونقل هوایی بین‌المللی را به‌گونه‌ای مصؤون، منظم، مفید کارآمد و پایدارتوسعه دهد. با توجه به رشد روزافزون صنعت هوانوردی و چالش‌های ناشی از آن در عرصه‌های مصؤونیت ، محیط زیست، حقوق بین‌الملل و فناوری، شناخت دقیق ساختار، وظایف و عملکرد ایکاو برای تحلیل نقش آن در مدیریت هوایی، ضروری به نظر می‌رسد. این مقاله در صدد آنست تا با معرفی سازمان ایکاو، اهداف، ارکان، اسناد اصلی و تأثیر آن بر نظام حقوق بین‌الملل هوایی هوانوردی را مورد بررسی قرار داده و در اخیر عضویت و اهمیت عضویت افغانستان به این سازمان را بیان نماید.

### سازمان بین‌المللی هوانوردی ملکی (ICAO)

سازمان بین‌المللی هوانوردی ملکی (ICAO) یکی از نهادهای تخصصی سازمان ملل متحد است که بر اساس کنوانسیون شیکاگو در سال ۱۹۴۴ میلادی تأسیس و از سال ۱۹۴۷ فعالیت خود را آغاز کرد. (Abeyratne, ۲۰۱٤)

این سازمان با مقر اصلی‌آن درشهر مونترال کانادا واقع می‌باشد، سازمان بین المللی هوانوردی ملکی ۱۹۳ عضو دایمی در سراسرجهان دارد و نقش مهمی در تدوین ستندردها و مقررات بین‌المللی هوانوردی ایفا میکند (ICAO, ۲۰۲۳).

معاهده هوانوردی ملکی بین‌المللی که سازمان ایکاو بر اساس آن تأسیس شده طیارات را به دو نوع ملکی و دولتی تقسیم کرده و اعلام داشته که این قرارداد فقط طیاره‌های تجارتی را شامل می‌شود. معاهده تعریف از طیاره را کشوری به دست نداده اما از آنجا که انواع طیاره های دولتی تعریف شده است، می‌توان گفت طیاراتی‌که دولتی نباشند و پرواز بین‌المللی انجام دهند طیاره‌های کشوری یا تجارتی ملکی محسوب می‌شوند. طیاره دولتی هم در ماده پنجم این معاهده طیاراتی‌که کارهای نظامی، گمرکی و پولیس را انجام می‌دهند تعریف شده‌اند. ابهام واژه طیاره دولتی باعث شده تا نظرات مختلفی در مورد دایره شمول آن بیان شود. یکی از نویسندگان به نام ورشور در کتاب مقدمه‌ای بر حقوق هوایی خود طیارات دولتی را شامل طیارات نظامی و انتظامی یعنی طیاره های که بخشی از نیروهای مسلح را تشکیل می‌دهند، طیاره های گمرکی، پُسته رسان، طیارات حامل سران و مقامات بلندپایه کشورها و طیاره‌های در حال مأموریت ویژه دانسته‌است. (جباری، ۲۱-۲۲: ۱۳۸۱)

### اهداف سازمان بینالمللی هوانوردی ملکی

بر اساس ماده ۴۴ کنوانسیون شیکاگو، سازمان بین‌المللی ایکاو اهداف ذیل را دنبال می‌کند:

- تضمین توسعه مصؤون و منظم هوانوردی ملکی بین‌المللی.
- تشویق به طراحی و بهره برداری مصؤون و اقتصادی طیارات.
- توسعه میدانها ، تسهیلات و تجهیزات هوایی.
- جلوگیری از تبعیض میان کشورها در اصول و فعالیت‌های هوانوردی.
- ارتقای سطح مصؤون پروازها و حفاظت محیط زیست. (United Nations, ۱۹٤٤)

## شورای سازمان بین‌المللی هوانوردی ملکی

شورای ایکاو رکن اجرائیوی دائمی این سازمان است که مسؤل بررسی، تصویب و ابلاغ استندردها و مقررات هوانوردی بین المللی میباشد. (Abeyratne, ۲۰۱٤)

## کمیته‌ها و ارکان زیرمجموعه شورا مجمع عمومی

شورای سازمان بین‌المللی ایکاو دارای یک سلسله ارکان و زیر مجموعه ها می‌باشد که هر کدام وظایف معین و مشخصی را بر عهده دارند، این ارکان و زیر مجموعه‌های شورای مجمع عمومی می باشند عبارت اند ازکمتیه عبور و مرور هوائی،

- کمیته حملونقل هوایی(Air Traffic Control): سیاستهای حمل‌ونقل بینالمللی.
–کمیته کمکهای مشترک(Joint Stock Company): همکاریهای منطقه‌ای.
- کمیته همکاریهای تخنیکی(Technical Coordination Committee): پروژه‌های تخنیکی و آموزشی.
- کمیته مالی: بودجه و منابع مالی سازمان.
- کمیته محیط زیست: کاهش آلودگی هوا و اذیت صوتی(ICAO, ۲۰۲۳).

## تاریخچه عضویت افغانستان در سازمان بین الملل هوانوردی ملکی ایکاو

افغانستان در۷ دسامبر ۱۹۴۴ برابر با ١٦ قوس ۱۳۲۳ کنوانسیون شیکاگو را امضا نموده و به تاریخ ۴ اپریل ۱۹۴۷ میلادی برابر با ۱۵ حمل ۱۳۲٦ خورشیدی با تصویب کنوانسیون شیکاگو به عضویت سازمان بین‌المللی هوانوردی ملکی درآمد. این کنوانسیون در تاریخ ۴ می ۱۹۴۷ (۱۴ ثور ۱۳۲٦) بهطور رسمی لازم الاجرا شد (United Nations, ١٩٤٤).

## همکاریهای بعدی با ایکاو و اهمیت عضویت افغانستان در این سازمان

در دهه‌های بعد، به ویژه پس از تأسیس اداره هوانوردی ملکی افغانستان در سال ۱۹۵۳، سازمان ایکاو ICAO بین‌المللی هوانوردی ملکی با اعزام کارشناسان فنی و اجرای برنامه‌های آموزشی در زمینه‌های مختلف هوانوردی به افغانستان کمک کرد (ICAO, ۲۰۲۳). عضویت در این سازمان به افغانستان امکان مشارکت در تدوین ستنددرهای بین‌المللی، بهره‌گیری از کمک های فنی و ارتقای مصؤونیت و امنیت پروازها را داده است (Abeyratne, ۲۰۱٤).

## نقش ایکاو در توسعه هوانوردی افغانستان

ایکاو نقش بسیار مهم و ارزنده‌ای را در صنعت هوانوردی افغانستان ایفا نموده است که از زمان ملحق شدن به کنوانسیون شیکاگو، بدینسو سازمان ایکاو در بخش های ذیل افغانستان را در صنعت هوانوردی همکاری نموده است:

- آموزش پیلوتان، تکنشینها و مدیران هوانوردی.
- پروژه‌های توسعه‌ای: بازسازی میادین هوائی، ارتقای سیستم‌های ناوبری و کنترل ترافیک هوایی.
- ظرفیتسازی: اجرای تفتیش های مصؤون و ایجاد هماهنگی با ستندردهای جهانی (ICAO, ۲۰۲۳).

## نتیجه‌گیری

سازمان بین‌المللی هوانوردی ملکی (ICAO) یکی از نهادهای تخصصی سازمان ملل متحد است که بر اساس کنوانسیون شیکاگو در سال ۱۹۴۴ میلادی تأسیس و از سال ۱۹۴۷ فعالیت خود را آغاز کرد. این سازمان با ایجاد چارچوب حقوقی، فنی و اجرائیوی توانسته است بستر همکاری بین‌المللی در صنعت هوانوردی را فراهم آورد. این سازمان نقشی کلیدی در ارتقای مصؤونیت پروازها، قانونمندسازی توسعه پایدار هوانوردی و حفاظت از محیط زیست ایفا میکند .

تهیه کننده مقاله: عبدالواحد خالد
(مدیرعمومی ستندردها و مقررات ترانسپورت هوائی، وزارت ترانسپورت وهوانوردی)

منابع

۱.جباری، منصور ، حقوق هوایی، چاپ اول، تبریز: فروزش. ۱۳۸۱ .
2. Abeyratne, R. (۲۰۱٤). Convention on International Civil Aviation: A Commentary. Springer.
3. International Civil Aviation Organization. (۲۰۲۳). Annual Report. Montreal: ICAO.
4. United Nations. (١٩٤٤). Convention on International Civil Aviation (Chicago Convention). Chicago.

# تایلنډ دګرځندویانو د راجلبولو لپاره نوې هڅه پیلوي

تایلنډ د ګرځندویۍ سکتور د بیا راژوندي کولو په موخه د نړۍ له ګرځندویانو سره یوه ډېره په زړه پورې طرحه پیلوي او د کورنیو الوتنو ټکټونه وړیا کوي. د دې پروګرام له مخې به شاوخوا ۲۰۰ زره بهرني ګرځندویان وکولای شي، چې د بنکاک، پوکت او چیانګ مای له ښارونو پرته نورو ښکلو او لږ پېژندل شوو سیمو ته هم وړیا الوتنې وکړي او د تایلنډ هغه سیمې هم هم وګوري چې لږې لیدل شوې دي.

دا طرحه، چې د تایلنډ د حکومت لهخوا تر ۱٦ میلیونه یورو لګښت لري، که د کابینې لهخوا ومنل شي، د روان زېږدیز کال سپټمبر څخه تر نوومبر پورې به پلي شي. هر ګرځندوی به له ۲۰ کیلو ګرامه وزن سره سره د کورنۍ الوتنې د تګ او راتګ وړیا ټکټ ترلاسه کړي.

د دې نوښت موخه دا ده چې د ګرځندوی صنعت بېرته پیاوړی شي، ځکه چې د تاوتریخوالو او اقتصادي ستونزو له امله د بهرنیو ګرځندویانو شمېر کم شوی. تایلنډي چارواکي هیله لري دغه اقدام به د هېواد اقتصاد ته تازه ساه ورکړي او زرګونه سیلانیان به د دې هېواد د ښکلو ساحلونو، عبادتځایونو او دودیزو خوړو لیدو ته وهڅوي.

تایلنډ حکومت د ګرځندویانو د لا زیاتې جلبونې په خاطر د سفر په نورو برخو کې هم اسانتیاوې راوستلي دي، چینایي وګړو ته د ویزو په ورکړه کې اساني او ځینې نورې اسانتیاوې راوستلې دي.

د تایلنډ حکومت پلان لري چې تر ۲۰۲۸ز کاله پورې ٦٨.٥ میلیونه ګرځندویان راجلب کړي.





# د ترکیې د ټرانسپورټ وزیر
# د زیات سرعت له امله جریمه شو

په ترکیه کې د ترافیکي خوندیتوب په اړه تازه بحثونه وروسته له هغې تاوده شول، چې د دغه هېواد د ټرانسپورټ او زېربنا وزیر عبدالقادر اورال اوغلو د زیات سرعت له امله جریمه کړای شو. په ټولنیزو شبکو کې خپره شوې یوه ویډیو ښیي چې اورال اوغلو په موټر کې په داسې حال کې روان دی، چې د ساعت سرعت یې ۲۲۵ کیلومتره ته رسېږي، چې دا اندازه د قانوني حد شاوخوا دوه برابره ده.

وزیر وروسته وضاحت ورکړ، چې هغه مهال یې سرعت ځکه ډېر و، چې انقرې ځخه د باندې یې د لویې لارې وضعیت ارزاوه او نه یې غوښتل د ترافیکي اصولو سرغړونه وکړي. خو دا دلیل د خلکو د غبرګون مخه و نه نیوله او دا چاره یې د یوه لوړپوړي چارواکي لهخوا د بېپروا چلند ځرګندونه وبلله.

دا ویډیو په اصل کې د ترکیې د زېربنايي پروژو د ستاینې په اړه د ولسمشر رجب طیب اردوغان د وینا له یوې برخې سره یوځای خپره شوې وه؛ خو د ننداري پر ځای یې انتقادونه راپارول.

د چارواکو د ځرګندونو له مخې اورال اوغلو ته د دغه عمل له امله ۲۸۰ ډالره جریمه شوی دی او نوموړي وروسته له خلکو ځخه بښنه وغوښته.

په ترکیه کې د ترافیکي خوندیتوب موضوع د خلکو د ژوند له مهمو برخو ځخه ده. یوازې تېر کال له شپږ زرو ډېر کسان د ترافیکي پېښو له امله ژوند له لاسه ورکړی، چې دا شمېر د دې هېواد د موټر چلونې د اصولو د پلي کولو جدي اړتیا ځرګندوي.

که څه هم د ټرانسپورټ وزیر بښنه وغوښته او خپله تېروتنه یې ومنله، خو دا پېښه یو ځل بیا دا پوښتنه راولاړوي، چې ایا قوانین یوازې د خلکو لپاره دي، که چارواکي هم باید ورته درناوی وکړي؟

# دعا

یو مسافر په یوه لویه دښته کې سفر کاوه، ډېر ستړی شوی، وږی او تږی و، چې په دې وخت کې یې په همدې خړه دښته کې یوه ګوره ونه ولیده، چې په خوا کې یې سړه چینه بهېږي. لاروي په خوږو اوبو تنده ماته کړه، د ونې په خوږې میوې یې ګېډه مړه کړه او د ونې ساړه سیوري ته یې دمه جوړه کړه.

مسافر چې کله راپورته شو، ونې ته یې مخ واړاوه، ویې ویل:

له خدایه څه درته وغواړم؟

که د ړنو اوبو چینه درته وغواړم، لرې یې، که د خوږې میوې دعا درته وکړم، ځانګې دې ترې ډکې دي او که ووایم چې په سیوري دې برکت شه، سیوری دې هسې هم برکتي دی.

نو زه به له خدایه درته دا و غواړم، چې که ستا له زړي بله ونه پیدا کېږي، هغه دې هم ستا غوندې وي.



وزارت ترانسپورت و هوانوردی

ریاست اطلاعات عامه و نشرات

مجله

# ترانسپورت و هوانوردی

علمی ‹ معلوماتی ‹ فرهنگی

